# روښانیان او خوشحال: یوه تحقیقي مطالعه

## A Study of Roshanites and Khushal Khan Khattak

Prof. Dr. Zubair Hasrat*

**Abstract:**

**Roshani Movement has the honor to have raised Pashto literature to the peack of glory. From the very basics of Pashto language to the prolific literature the contribution of Roshan and his follower could not be ignored. They had played due role in educating pashtoons with respect to religion, nationalism and politics.**

**The author of this paper has extensively discussed the view point of great Khushal Khan khattak and negated assorted negative impressions in this regard.**

* Director Pashtoon Khwa Study Center, Bacha Khan University, Charsada

د خوشـــــحال ختـــک پـــــه ژبـــــه برکـــــت شـــــه
چـــــې وئیـــــل کـــــا پـــــه پښـــــتو لـــــه هـــــره بابـــــه

له دې وړاندې چې زهٔ د خوشحال بابا هاغه شعرونو ته رجوع وکړم چې د بایزید انصاري پیرروښان او روښاني شاعرانو تذکره پکښې شوې ده، ضروري ګڼم چې د پیر روښان په نظریه خبره وکړم چې څهٔ عقیده او مسلک ئې لرلو او پښتو ادب کښې ورته په کوم نظر او حېثیت کتلې شي او د دهٔ یوه مختصره غوندې تعارفي خاکه وړاندې کړم.

بایزید انصاري پیر روښان د قاضي عبدالله زوئې او د شېخ محمد نمسی دی د نسب سلسله ئې پنځمې پېړۍ کښې پیر سراج الدین پورې او بیا د هغهٔ په وساطت په یوویشتم پشت کښې د پاک رسول صلی الله علیه وسلم د مشهور صحابي حضرت ابو ایوب انصاري پورې رسي. بایزید روښان په ۹۲۷ھ[1] کښې په جالندهر(پنجاب) هندوستان کښې پېدا شوی وهٔ. دې لاد یوې میاشتې وهٔ چې پلار ئې د دې ځائی نه کډه وکړه او خپل وطن کاڼي ګرم(وزیرستان) ته لاړو.

د بایزید روښان ابتدائي تعلي څنګه چې په کار وهٔ. هاغه شان ونهٔ شهٔ، خو بیا هم هغهٔ د خپل ذاتي شوق او ذوق په بنا کافي تعلیم حال حړهٔ ز د هلکواني راسې ئې زړهٔ دین او مذهب طرف ته مائل وهٔ او په طبعیت او ریاضت شوق ئې هم ډېر زیات لرلو. د دهٔ د مشرانو زیست روزګار او کار کسب کښې زیاته برخه د تجارت او سوداګرۍ وه ځکه بایزید هم د سوداګرۍ په سلسله کښې د خواوشا ملکونو او وطنونو سفرونه کړي وو او ډېر څهٔ ئې لیدلي کتلي وو او د مختلفو عقیدو او مذهبونو عالمانو فاضلانو سره ئې خبرې اترې شوې وې او دغه رنګ معلومات ئې زیات شوي وو او تجربه او مشاهده ئې هم زیاته او تېزه شوې وه. ولې د زړهٔ سکون ورته په هېڅ کښې حاصل نهٔ شهٔ او اخر یو وخت پرې داسې هم راغی چې دنیاوي کار ئی بیخي پرېښوهٔ. د دنیا نه یوې ډډې ته شهٔ او په عبادت او ذکر فکر کښې مشغول شهٔ او ورو ورو داسې مقام ته ورسېدهٔ چې خلقو ترېنه روحاني فېض بیا موندهٔ او په لږه موده کښې ئې په حېثیت د یوهٔ پیر ډېر لوئی نوم

او شهرت وشۀ. د پیرۍ او مریدۍ یوه خپله سلسله ئې روانه کړه چې دغه سلسلې ته به ئې روښانیه وئیل او په دغه بنیاد به بایزید انصاري ته خلقو پیر روښان وئیل.

"د خواوشا په اکثرو علاقو کښې تر پنجاب، سندهـ او بل خوا تر افغانستان پورې ګېر چاپېره د دۀ مریدانې شوې او د دۀ تحریک ډېر زور ونیوۀ د دې نوي تحریک ځنې اصول او عقیدې د دغه زمانې د عالمانو په نزد د شرعې خلاق وې ځکه نو د عالمانو یوې ډلې چې مشر ئې اخون درویزه بابا وۀ. د بایزید روښان د تحریک سخت مخالفت وکړۀ او د وخت حکوم هم د بایزید روښان ټول پښتانۀ قبائل د ځان سره ملګري کول یوه خطرناکه منصوبه وګڼله. د اکبر باچا او د هغۀ نه راپه وروستو دور کښې د پیر روښان د ملګرو او مغلو فوځونو تر منځه بېشماره جنګونه وشول." [ii]

اخر د سید علي ترمذي پیر بابا او اخون درویزه د پرله پسې مخالفت په وجه پیر روښان ډېر کمزوی شۀ او ملازنګي چې د اخون درویزه استاد وۀ. پرې د روښان په ځائی د تاریک نوم کښېښوۀ. اوس که یو پله بایزید د روښان په نامه نو بل خوا د تاریکي په نامه هم یادیږي. بایزید روښان هم د دغو سختو مقابلو او کشمکش په دوران کښې په کال **۹۸۳**هـ ق **۱۵۷۵**ء [iii] کښې وفات شۀ.

بایزید انصاري وړومبی پښتون دی چې دۀ مذهبي مسئلې او کتابونه عربۍ، فارسۍ او هندۍ سره سره په پښتو نثر کښې ولیکل د دۀ د زمانې نه مخکښې د پښتو د نثر سمه داسې څۀ نمونه نشته دی چې هغه د پښتو نثر ایجاد کوونکي وي. دوېمه خبره دا ده چې د پښتو رسم الخط هم بایزید انصاري وضع کړی معلومیږي ځکه چې ددۀ په پښتو نثر کښې د پښتو خپل خاص او اختلاقي توري موندی شي. درېمه خبره دا ده چې بایزید روښان د خپلې زمانې هندۍ یا پنجابۍ ژبه کښې هم د لیک نمونې پرېښې دي. څلورمه او له ټولو اهمه خبره ده چې بایزید روښان اولنی پښتون عالم او لیکونکی دی چې د روحاني تعلیماتو سره سره ئې د پښتون قام تر منځه اتفاق را پېدا کړی وۀ او د بې دینۍ کومې نښې چې د مذهب خلاف د احبر باچا په زمان کښې ښکاره شوې وې د هغې د ورکولو او ختمولو هڅې ئې شنډې نۀ دي تللې.

امیر المتغزلین حمزه شینواري چې په خپله هم عملي صوفي پاتې شوی دی خپله سوانح عمری "د خیبر زوی" کښې هم په ۱۷۰ - ۱۷۱ مخونو دغه بحث کښې حصه اخستې ده او په ډېرو وئیلو اورېدلو خبرو ئې د خپلې نظرئې مطابق رائې قائمه کړې ده چې اختلاف ورسره کېدی شي. د دغه بحث نه چې کوم نتائج اخذ کیږي هغه ځۀ په دې ډول دي:

1. بایزید روښان د مغل بادشاه اکبر د دین الٰهي خلاف توره وچته کړې وه.
2. پیر بابا د بایزید روښان مخالف نۀ وۀ بلکې هغه ئې خوښ او زړۀ ته نزدې وۀ په دې چې د خدای نیازبین او نازولی ورته ښکارېدۀ.
3. اخون دروېزه د ملازنګي په سفارش پیر بابا د خپلو مریدانو په حلقه کښې شامل کړی وۀ خو دا عېب ئې ورته ښکاره کړی وۀ چې دی د عېبو خبرې او پېشنګویانې کوي او اخون دروېزه توبه ایستلې وه خو خپلې مرشد پیر بابا ئې تر مرګه په ارام نۀ وۀ پرېښی.
4. پیر بابا د اخون دروېزه د ځینو ناوړیو حرکتونو نه تنګ وۀ خو د پیرۍ مریدۍ له کبله ئې ورته ځۀ وئیلی نۀ شو.
5. دروېزه بابا به د پیر په وړاندې د کستاخۍ هم مرتکب کېدۀ او له دې کبله ئې وره د خلافت درجه هم نۀ وه ورکړې.
6. اخون دروېزه ته دغه درجه په ډېر بوډا توب کښې د پیر بابا نمسي ورکړې ده.
7. اخون دروېزه به د جمعې د نمانځۀ نه وړاندې یا وروستو وعظ کښې حضرت علي او د پیر بابا د تنګولو د پاره د شیعه ګانو مخالفت کولو.
8. پیر بابا ئې پیر روښان پسې اتمانزو ته د هغۀ د ملامته کولو او پړ کولو د پاره بوتللی وۀ. [iv]

**د بایزید روښان ځنې تصنیفات:**

خېر البیان:

د بایزید روښان تر ټولو زیات مشهور او اهم کتاب دی چې په څلورو ژبو یعنې عربۍ، فارسۍ، هندی/پنجابۍ او پښتو کښې لیکلی شوی دی. دا کتاب په اول ځل مولانا عبدالقادر صاحب د جرمني د ټیوبنګن یونیورسټۍ نه دریافت کړی راوړی او د پښتو اکېډیمۍ له خوا ئې په اول ځل جون ۱۹۶۷ء کښې د حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي د بسیطې مقدمې سره چاپ کړی دی.

صراط التوحید:

دا کتاب ئې د یو مکتوب په شکل کښې اکبر باچا ته د خپل خلیفه فقیر دولت په لاس استولی وۀ. محمد عبدالشکور صاحب پېښور میوزیم پخواني مهتمم په ۱۹۵۲ء کښې په اول ځل د اداره اشاعت سرحد (پېښور) نه چاپ کړی دی. د دې کتاب د لیکلو کال ۹۷۸ھ دی.

مقصود المؤمنین: دا کتاب د خېر البیان نه پس د بایزید په مریدانو کښې زیات مقدس ګڼلی کېدۀ بایزید روښان دا کتاب د خپل مشر زوئی شېخ عمر په درخواست او خواهش او فرمائش لیکلی وۀ. دا کتاب په عربۍ کښې دی. یویشت فصلونه او نوي (۹۰) پاڼې لري اوس اوس د اسلام اباد نه د ډاکټر مرولي المسعودي د تصویر سره چاپ شوی.

فخر الطالبین:

دا کتاب هم بایزید روښان د یوۀ مکتوب په صورت کښې لیکلی وۀ او د خلیفه یوسف په لاس ئې د بدخشان حاکم ته استولی وۀ خو له بده مرغه دا کتاب اوس په لاس نۀ راځي.

حالنامه:

د دبستان مذاهب مؤلف وائي چې بایزید روښان د خپل ژوند حالات د "حالنامه" په نامه لیکلې دي. وروستو د بایزید روښان مرید علي محمد مخلص ابن ابابکر قندهاري دوباره دغه حالنامه د نوي سره ترتیب او تدوین کړې ده چې د بایزید روښان نه پس ته د دوي د ټول خاندان د حالاتو او واقعاتو یوه غوره تاریخي حواله ده.

مکتوبات:
د دې په حقله عبدالقدوس قاسمي صاحب د خېر البیان مقدمه کښې به ۸۲ مخ لیکلي دي چې "خدائی ته معلومه ده چې د "پیر روشان مکتوبات" د دهٔ د خطونو مجموعه ده، که دا هم ددې حالنامې ذکر دی. (هر کله چې ورته ډاکټر جهانګیر لیکلي دي چې د پیر روښان مکتوبات د دهٔ د نظمونو مجموعه ده).
واجیددی شلوک: دا د پنجابۍ یو منظوم کتاب دی. چې اونکار ناتهـ ترتیب کړی دی. ځنې خلق وائي چې دا هم د دې بایزید روښان تصنیف دی.

روښاني رساله/ تذکره د علم رساله:
دا هم بایزید روښان ته منسوب یوه وړه غونډې شعري مجموعه ده چې پښتو ټولنې افغانستان چاپ کړې ده. قلندر مومند " د خېرالبیان تنقیدي مطالعه" په ۱۴۰ مخ لیکي چې:
"تر اوسه لاد بازیزید د پښتو قصیدو، غزلونو، رباعیاتو، قطعو او مثنویانو څځهٔ درک نهٔ دی لګېدلی خو د حالنامې له بیانه یقیني طور سره څرګندیږي چې بایزید په دېو اصنافو(قصیده، غزل، مثنوي، رباعي او قطعه) کښې شاعري کړې ده".
ښاغلي حبیب الله رفیع " د بایزید روښان شاعري" نومې خپله مقاله دوه میاشتنۍ سپیدې(پېښور) کښې په ۸۰ مخ او ۸۴ مخ او ۸۴ مخ د حالنامې له دغه بیانه داسې استنباط کړی دی چې : " بایزید روښان پښتو شعر وایهٔ او په دې ژبه کښې ئې قصیدې، غزل، مثنوي، رباعي او قطعې صنفونه ایجاد کړل. دوهم دا چې د دهٔ په پیروۍ د دهٔ زامنو او مریدانو د شعرونو دیوانونه رامنځ ته کړل او دریم دا چې نورو هغو کسانو هم چې له دهٔ سره ئې عقیدوي تړون نهٔ درلود د دهٔ ادبي تقلید او پېروي وکړه".

د بایزید روښان مذهبي عقیده او ملسک:

بایزید روښان د خپلې مخصوصې لارې، سلسلې او یو مستقل مسلک خاوند وۀ او د دۀ په تبلیغ او نغوته یوه مستقله ډله یا فرقه روښانیه یا روشنیه په اسلامي ډلو کښې پېدا شوې وه. د حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي په خیال دا خو چې وه یوه مذهبي فرقه خو سیاست ته ئې ګوتې واچولې نو دل دول شوه. (د خېرالبیان مقدمه مخ ۱۰۳).

دې سلسله کښې انګرېز لیکونکي مجبر ار- ټي- ائي خپل کتاب چې ښاغلي پروفېسر اېم – انور رومان د "پټهان" په نامه اردو کښې ترجمه کړې دی. کښې په ۲۵ او ۲۲ مخ هم څۀ عجیبه خبرېې کړې دي چې زیات تره ئې د غلط بیانۍ یا تجاهل عارفانه نه کار اخستی دی. دغه ښاغلي لیکلي دي چې "روشنیه فرقه" سیدان، اورکزي او بنګښ شیعه ګانو ته خو شیعه ګان وائئ خو دوي اصل کښې د روښانیه فرقې پیرو دي چې پښتنو کښې د شپاړسمې صدۍ په منځ و میانه کښې پېدا شوه. د دې باني بایزید وۀ چې خپل ځان ته به ئې پیر روښان وئیل. هغۀ قرآن حکیم په تاخ کښې کښېښوۀ او دا ئې وښودل چې د خدای نه غېر څۀ موجوده نشته. یو وخت کښې نیم پښتانۀ ددۀ پیروکار وو خو چې کله ئې پیروکار سیاست کښې داخل شو نو اکبر باچا او جهانګیر دوي وچقول او خوارۀ وارۀ ئې کړل او اوس صرف ذکر شویو قبیلو کښې موجود دي."

د یوې مذهبي ډلې په حېث خو اوس د دوي وجود ختم شوی دی. خو دوي عقائد چرته تفصیلي او چرته اجمالي د دوي په کتابونو خېر البیان او صراط التوحید کښې واضع دي خصوصاً د صراط التوحید بیان زیات صراحت او وضاحت سره دی چې دلته ئې یوه اجمالي خاکه وړاندې کوم:

1. بادشاهانو، امیرانو، عالمانو، عاقلانو! .....د عقل نه کار واخلئ او د عقل تقاضه دا ده چې الله تعالیٰ مخلوقات ستاسو د فائدې د پاره پېدا کړي دي او تاسو ئې خپل عبادت له پېدا کړي ئۍ ځکه نو تاسو له د خپل رب عبادت په کار دی.
2. ایمان د عقیدې او عمل نوم دی خو عقیده اقرار او عمل هلۀ خدائی ته قبول وي چې د خدائی معرفت ورسره شامل وي او د خدائی د معرفت نه بغېرهېڅ عبادت خدای ته قبول نۀ وي.

3. علم دوه قسمه دی یو ظاهري او بل باطني. ظاهري علم د استاذ نه زده کیږي او باطني علم د پیر کامل نه . کوم علم چې د خدائی او بند په منځ کښې راز دی. د هغې په لیک کښې راخستل او بر ملا بیانول ښهٔ نهٔ دي.
4. د توحید لار (د خدائی معرفت) په مادي جهاتو، په غوږونو، په سترګو پېژندل ګران دي. دا لار د سرې په ځان او زړهٔ کښې ده. چې د کامل پیر نه غېر پرې بل څوک نهٔ پوهېږي. ځکه په ټول مخلوق دا لازم دي چې د دې لار بد زده کړې د پاره د کامل پیر لمن ونیسی. ځکه چې کامل پیر د نبیانو لارې ته رابلونکی دی او څوک چې د پیر کامل په اواز غوږ نهٔ ږدي هغه ګمراه دی.
5. د کامل پیر فرمان برداری د نبي (ص) فرمان برداري ده او د رسول صلی الله علیه وسلم فرمان برداري د الله تعالٰی فرمان برداري ده او مخالفت ئې هم دغه شان دی.
6. د کامل پیر نهٔ منونکي او ترېنه مخلوق منع کوونکي ناقصان او ګمراهان دي. د دوي ګمراهي د ابلیس او شېطان په شان ده چې څوک ئې پیر وي کوي د ایمان زیان کوي.
7. د پیر کامل ښښه د ده چې خلق ئې په هدایت لار مومي دوي د رزق د پاره چا پسې نهٔ ګرځي. د شریعت په حدودو کښې اوسې او ظاهر او باطن ئې یو وي.
8. کامل پیر هغه دی چې د شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت (څلورو مقامونو او څلورو سېرونو ) نه خبر وي او دې کښې د خپل مرید تربیت کولی شي.
9. د کامل پیر په لاس توبه ویستل ضروري دي طریقه ئې دا ده چې مرید دې غسل وکړي. دوه رکعته نفل نمونځ دې وګزاري بیا دې د پیر کامل مجلس ته ورشي، په پښو دې ئې پرېوځي، په صدف دې کلیمه ووائي، خپل اسلام دې په ځائی کړي او ائنده د پاره دې د هرې ګناه نه توبه وباسي.
10. پیر کامل به خپل مرید ته دوه قسمه عبادت ښائي. ظاهري او باطني. ظاهري لکه نمونځ، روژه، زکواة حج او باطني لکه ذکر حق او ذکر خفي. ښکاره ذکر کول مناسب نهٔ وي.

11. سالک به د حرمو کارونو نه ځان ساتي. خوراک، خوب او خبرې به کمې کوي. د شپې وروستۍ برخه کښې او د ورځې د سحر د نمانځۀ نه پس به د یا د حق او تصور شېخ مراقبه کوي. د نېکانو په صحبت کښې به وخت تېروي. ذکر خفي کښې په مشغول وي او تر څو چې ئې د وحدت مقام نۀ وي حاصل کړی. تر هغې به مجاهدو کښې مصروف وي.
12. چې طلب صادق وي نو مرید به په اوله چله کښې علم الیقین حاصل کړي. په دوېمه کښې عین الیقین، په درېمه کښې قربة الیقین، په څلورمه کښې وصلة الیقین، په پنځمه کښې توحید الیقین او په شپږمه چله کښې به کشف الاسرار حاصل کړي. په هره چله کښې پوره ریاضت او په ځان و مال د پیر خدمت ضروري او لاژم دی.

**په بایزید روښان لګېدلي الزامونه او د هغې جوابونه:**

د خپلو مذهبي عقائدو او افکارو له وجې په بایزید روښان د خپل مسلک له رویه ځنو مخالفینو الزامونه ولګول او هغه ئې په قام اولس کښې بدنام کړۀ. دلته ضروري او مناسب ګڼم چې د هغۀ الزامونو او جوابونو هم یوه اجمالي خاکه پېش شي چې د بایزید روښان د مذهبي تظریې څرګندونه ترې وشي.

د بایزید روښان د مخالفت ابتدا د کاڼي ګرم نه شوې وه. د کاڼي ګرم یو مولانا ذکریا ورته ووې چې ستا درې خبرې نامناسبې دي اول دا چې ځان ته پیر وائې. دوېم دا چې ما ته الهام کیږي. درېم دا چې خلق په منافقانو بلې او دا کارونه دې مناسب نۀ دي اول دا چې په دروغه پیري کوې. دوېم دا چې د پلار او ورور خبره نۀ مني. درېم دا چې لوئي او تکبر کوې او د مسلمانانو په دنیا کښې خلل اچوی. څلورم دا چې اول به دې دعا، تسبیحات، مناجات، استغفار او نفل نمونځ کول او اوس دې پرېښې دی. پنځم دا چې اول نرم دله، نېک خویه او بردباره وې. اوس خپل مال ته غاوره شوی ئې او سخت خوئ دې شروع کړی دی.

بایزید روښان ئې جواب کښې ووې چې ځان ته پیر وایم او په دروغه پیر نۀ کوم. دا د نبي صلی الله علیه وسلم لاره ده چې څوک د صدق طالبان وي هغه د ړوند والي، کوڼ

والي او کونګ والي او شرک نه راوباسم او د توحيد د علم نه ئې خبروم. څوک چې زما تابع شي هغه د نبي صلی الله عليه وسلم د علم نه واقف شي. د عبدالله (پلار) او يعقوب (ورور) خبره ځکه نۀ منم چې هغوي مې د دنيا په کار اخته کوي او د دين نه مې منع کوي. اول مې خوي نرم وۀ ځکه چې د معرفت په مقام کښې وم او په دې مقام کښې چا سره سختي او درشتي نۀ ده په کار اوس د توحيد د نور نه خبر شوی يم يعنې د وحدت مقام ته رسېدلی يم. خلق په شرک کښې مبتلا وينم. زۀ ئې د حق لارې ته را اړوم. په هغوي زما خبرې بدلې لګي.

مولانا ذکريه پرې اخري اعتراض دا کړی وۀ چې ستا پير نشته او بغېر د کامل پير نه خلق مريدان جوړول نا جائز دي. بايزيد روښان د دې جواب کښې وئيلي وو چې زما طريقه اويسيه ده. ما ته الله تعالٰی د حضرت خضر عليه السلام په طفېل نېغ په نېغه خطاب کړی دی.

د بايزيد روښان دوېمه مناظره يا مکالمه د يوۀ عام سړي سره شوې وه. بايزيد روښان به اول په خلقو سلام نۀ اچولو بيا ئې خپله رويه بدله کړله په خلقو ئې سلام واچولو. وئيل ئې چې ما ته اوس خدائی حکم وکړۀ چې په خلقو سلام اچوه. يو سړي ورته ووې چې دا خو دې ډېر ښۀ وکړۀ خو د درېو نورو خبرو نه هم واوړه. يوه دا چې دا مۀ وايه چې ما ته جبرائيل عليه السلام راځي. دوېم دا چې دا مۀ وايه چې زۀ مهدي يم او درېم دا چې خلقه په منافقانو مۀ بوله.

بايزيد روښان ورته ووې چې زۀ خو دا نۀ وايم چې ما ته جبرائيل عله السلام راځي زۀ خو دا وايم چې په ما الهام کېږي. زۀ خو دا نۀ وايم چې زۀ مهدي يم. زۀ خو دا وايم چې زۀ هادي يم خلقو ته نېکه او نېغه لاره ښايم او زۀ دا هم نۀ وايم چې ټول خلق کافران، مشرکان يا منافقان دي بلکې زۀ خو وايم چې څوک خدائی کافران او مشرکان يا منافقان کړي دي هغه کافران، مشرکان او منافقان دي.

د بايزيد درېمه مناظره او مکالمه د کابل د مشر قاضي خان سره شوې ده چې د خلاصه ئې دا ده:

قاضي خان: پيره! خلق وائي چې تۀ ځان ته مهدي بولې دا خبره رښتيا ده که دروغ.

بایزید روښان: دروغ وائي. زۀ خو وایم چې زۀ هادي لاره ښودونکی یم. د رسول علیه السلام لاره ښایم او د هغۀ په علم خلق پوهوم او مریدانو ته د توحید د لارې هدایت کوم. او د ګمراهي، ناپوهۍ او د شرک نه خلق اړوم. حاسدان راهت د حسد په وجه د هادي په ځای مهدي وائي او د ولي په ځائی مې نبي بولي.

قاضي خان: دا هم اورېدی شي چې تۀ وائې چې ما باندې وهي راځي؟

بایزید روښان: غلط وائي.زۀ وایم چې په ما الهام کیږي او د غېبو اواز اورم.

قاضي خان: د وسوې، الهام او د خدائی اواز او شېطاني اواز تر منځه فرق څنګه کوی؟

بایزید روښان: د وسوسې، الهام او رحماني اواز او شېطاني اواز په منځ کښې تمیز په ایت، حدیت او د بزرګانو په اقوالو کوم چې کومه ندا او الهام د دې سره موافق وي. د خدای له لوري ئې ګڼم او الهام ئې شمارم او چې د ایت، حدیث سره د موافق نۀ وي هغه وسوسه اوشېطاني غږ ګڼم او په اغوذ بالله ئې رد کووم.

قاضي خان: خلق وائي چې ستا دعوی دهچې په ما د وحي په طور یو کتاب راغلی دی چې څلوېښت سیپارې دی. دا رښتیا دي؟

بایزید روښان: مدعیان غلط او دروغ وائي. زۀ واي چې الله تعالیٰ د الهام په طور زما په زړۀ یو کتاب نازل فرمائیلی دی چې نامه ئې "خېر البیان" ده په هغې کښې څلوېښت بیانه دي لکه څۀ رنګ چې په غوث اعظم حضرت شېخ عبدالقادر جیلاني د الهام په طور "غوثیه" نازل شوې وه. خو عام اوس د وحې او الهام تر منځه فرق نۀ شي کولی ځکه ورته وحي وایي او حاسدان له حسده پېغورونه کوي او الهام وهي ګڼي.

د بایزید روښان له ټولو لوی مخالف اخون دروېزه بابا وائي چې مونږ درې ځلې ورپسې لاړو او دی مو پږ کړی دی خو د خپلو بحثونو څۀ خلاصه یا مفصل ذکر ئې خپلو دوؤ مشهورو کتابونو "مخزن الاسلام" او "تذکرة الابرار والاشرار" کښې نۀ دی کړی سېوا د بدو ردو او سپکو سپورو خبرو نه.

اخون دروېزه بابا د بایزید روښان د مرګ نه څلوېښت کاله پس چې خپل کتاب کښې په هغۀ کوم تورونه پورې کړي دي. سېوا د وحدت الوجود د مسئلې نه نور هر څۀ په هوائي خبرو مبني دي او دغه الابلا یا د هغې رد او جواب د روښان په کتابونو یا د هغۀ د

مریدانو په کتابونو کښې هېڅ چرته او هېڅکله هم نهٔ دي جواب شوي. سېواد مېرزا خان انصاري ددې یو بېت نه، چې هغې کښې هم فقط د پیر بابا نامې ته اشاره ده نور په ټول روښاني ادب کښې هېڅ جواب نهٔ مودې کېږي. د مېرزا بېت دا دی چې:

ای مېـــرزا روښـــان پـــه هـــر لـــوري جلـــوه کـــا
د ترمـــــذ افتـــــاب راوخـــوت لـــــه بـــــونېره

په بایزید روښان د اخون درویزه د تورونو خلاصه دا ده:

1. د بایزید عقیده د باطنیه وو (اسماعیله وو) ده په کالنجر کښې د ملا سلېمان ملحد سره ملاقات وکړه څو ورځې ئې د هغهٔ په صحبت کښې تېرې کړې او هغهٔ د دهٔ (روښان) عقیده خرابه کړه.
2. بایزید روښان د جوګیانو په مجلس کښې هم ناست ووه او د هغوي نه ئې د تناسخ او د اوتار عقیده اخستې او زړهٔ کښې ئې خپله کړې وه.
3. د دې صحبت په وجه په دهٔ ځان ته د خدائی مظهر وئیل او مریدانو ته په ئې وئیل چې دا موجوده اجسام چې ختم شي نو د حېواناتو اروح د نورو حېواناتو په جسم کښېوځي.
4. بایزید روښان د پېغمبرۍ هم مدعي وهٔ. خېر البیان ئې د خدائی له طرفه نازل شوی کتاب ګڼلو. چونکې اوس خو جبرائیل علیله السلام نازلېږي نه ځکه دهٔ دا کتاب له ځانه راجوړ کړی وهٔ بلکې څهٔ برخه ئې ملا ارزاني هم ورسره جوړه کړې وه.
5. د دهٔ دوه مهرونه وو په یو ئې لیکلي وو چې "سبحان الملک الباری جدا کرد عالم نوری از ناری بایزید انصاري" او په دوېم باندې ئې "بایزید مسکین هادي الضلین" لیکلي وو. د اول مهر نه معلومېږي چې ځان ئې خدائی ګڼلو او دوېم نه دا چې ځان ئې پېغمبر ګڼلو.

6. بایزید روښان د حشر نشر منکر وۀ او مریدانو ته به ئې وئیل چې کۀ په حلالور وي که په حرامو، جسمونه مو لوی کړئ چې دا یو ځل فنا شي نو بیا ژوند نشته.
7. دی د شفاعت هم منکر وۀ او یو ځل چې ورپسې د پیر بابا ډله د بحث د پاره تللې وه نو دې ئې پړ کړی وۀ.
8. ټول کاروبار او عمل ئې د ټګۍ، چل ول او فریب وۀ یا خو ئې دا حال وۀ چې سبزه بهئې نۀ پرېکوله او سپږه به ئې نۀ وژله. او یا ئې دا حل شه چې په چا به ئې چې وس بر شۀ په ټګۍ به ئې ووژل لکه تیراهي ئې چې وژلې وو.
9. خپل مریدان به ئې اخر د نېک عمل نه پاتې کړل او په لوټ تالان به ئې اخته کړل.
10. د دۀ په مریدانو کښې ښځې هم شاملې وې او د عام اولس د پاره ئې یوه لویه تماشه جوړه کړې وه چې خلق ځان ته رامات کړي.

د خوشحال بابا په نزد د اخون درویزه علم ډېر لړ او هغه د روښان او د خېرالبیان په تعلیماتو او مندرجاتو نۀ پوهېدلو لکه چې خپله منظومه سفرنامه " سوات نامه" کښې ئې واضح او صراحت سره په دېو شعرونو کښې دا بیان کړی دی چې:

درویــــــزه لـــــه یـــــوه لوریـــــه راپېـــــدا شـــــۀ
پـــه لـــږ علـــم پـــه دا ملـــک کښـــې لـــوئی مـــلا شـــه
چـــې ئـــې حـــال د دې عـــالم مشـــاهده کـــړۀ
خپـــل کتـــاب ئـــې پـــه کاغـــذ مســـوده کـــړه
د روښـــان خېـــر البیـــان ئـــې وۀ لیـــدلی
د هغـــۀ پـــه مضـــمون نـــۀ وه پوهېـــدلی
دۀ چـــې خوشـــې مېـــدان بیـــا مونـــد ســـخن ګـــوئی شـــۀ
پـــه وئیـــل کشـــې چـــې ئـــې زړۀ وۀ هســـې تـــوئی شـــۀ
هغـــه وخـــت پـــه پښـــتنو کښـــې علـــم نـــۀ وۀ
درویـــزه تـــر مجتهـــده ورتـــه ښـــۀ وه[7]

داسې بریښي چې د "مخزن" د مقدمې د لیک په حواله تقویم الحق کاکا خېل صاحب د انصاف تله مستقیمه نهٔ ده ساتلې او ځکه خو ئې د خوشحال بابا د پورتنیو بېتونو په موجودګۍ کښې هم داسې لیکلي دي چې :

" اخون درویزه بابا چې په کومو خبرو بایزید ته ګمراه وائي د هغې خلاصه دا ده:

1. دې خېر البیان الهامي کتاب ګڼي او وائي چې دا په ما داسې نازل شوی دی لکه په پېغمبر صلی الله علیه وسلم چې قرآن نازل شوی دی.
2. بې د پیر کامل نه خدای ته نهٔ شي رسېدی او هغه پیر کامل زهٔ یم او زما اقتدا ضروري ده. زهٔ ستاسو پېغمبر هم یم او خدائی هم.
3. په دې دنیا کښې چې څهٔ دي خدای دی او بې خدایه بل څهٔ نشته.
4. خلق شریعت ته راغواړي او بیا ورته وائي چې د شریعت نه تېر شئ نو طریقت ته به ورسئ او چې د هغې نه تېر شئ نو حقیقت ته. داسې ئې اتهٔ درجې جوړې کړې دي. په اتمه درجه کښې د امر نهې، حلال حرام نه فارغ شي او ورته وایي چې اوس ستا په ذمه د شریعت احکام پوره کول نشته.
5. بعث او حشر نشر . روح به دې دنیا ته بیا راځي.

کهٔ زهٔ مو خوشحاله کړم نو د بنیادم په شکل کښې، کهٔ نهٔ وي د خنزیر یا د سپي په شکر کښې [vi].

د بایزید روښان عقیده، مسلک، نظریه او فلسفه مذهبي وه او دغه مذهبي نظریه هغهٔ په ډېره ښکلې ادبي پېرایه کښې د عربۍ، فارسۍ، هندۍ او پښتو د مسع او مقفی نثر د اثرلاندې په "خېرالبیان" کښې لیکلې وړاندې کړې ده چې په روښانیانو کښې ئې ډېر لوی رول لوبولی دی. د دغه کتاب په حقله تقویم الحق کاکا خېل صاحب د "حالنامې" په رڼا کښې لیکلي دي چې :

" "خېر البیان" د بایزید انصاري د تعلیماتو بنیادي کتاب دی. بخپله ئې لیکلی دی. خپله ئې لولوی دی او خپلو زامنو او خلفاؤ ته ئې د دې د لوستو

او لولولو حکم ورکړی دی. د بایزید نه پیر هم د دۀ په خاندان او مشرب کښې داکتاب لکه د مقدسو کتابونو ساتلی، لوستلی او لولولی شه" [vii]

د بایزید روښان تحریک، فساد یا پاځون نه سیاسي وۀ او نۀ ئې څۀ سیاسي عزائم په سر او نظر کښې لرل خو د هغۀ د وفات ۹۸۲ – ۹۸۷ هـ نه پس داسې برېښې چې د هغۀ اولاد په زور سیاست ته راکښلی شوی دی او پښتنو کښې چې کومې شخړې او هڅې د مذهب او ادب نه سیاست ته راغلې دي او سیاسي شوي دي نو هغه ژوندی پاتې شوي دي. دغه حال د روښاني تحریک هم وۀ لکه چې تقویم صاحب لیکلي دي چې:

"......د بایزید د مرګ نه څۀ موده پس، د هغۀ اولاد د هغۀ مریدانو د مغلو خلاف یو اوږد سیاسي تحریک شروع کړۀ او تر ډېرې مودې ئې ډېر په کامیابۍ وچلولو. د هغوي همت، جرات او اخلاص په تاریخ کښې اوچت مقام ونیوۀ او ورسره د بایزید نوم هم ژوندی پاتې شۀ. اګر چې د بایزید په کتابونو او د هغۀ د خلفاؤ په اشعارو کښې دی سیاسي تحریک ته هېڅ اشاره نشته خو دا جنګ هغۀ شروع کړی وۀ. دا اولاد د هغۀ وۀ دا مریدان د هغۀ وو او تاریخ د هغۀ نوم هېرولی نۀ شو.

وړاندې لیکي چې:

"په پښتنو کښې چې د قومیت احساس راویښ شۀ او د خپلو ورکو مشرانو تلاش ئې شروع کړۀ نو د تاریخ په پاڼو کښې ئې یو نوم دا هم وموندو. په دې نوم مودې تېرې شوې وې او د پښتونولۍ په لار کښې بهېدلې وینې د دېنوم نه چار چاپېره یو شپول جوړ کړی وۀ. د دۀ د اولاد د قربانۍ ښکارېدې. د هغوي همت او جرات ښکارېدۀ. د هغوي مینه او اخلاص ښکارېدل او د هغې شاته د دۀ نوم نری نری ځلېدۀ. لکه چې دا هر څۀ د دۀ د تعلیماتو برکت وي. نتیجه ئې دا شوه چې ددۀ د تعلیماتو مخالف اخوند درویزه ته خلقو په بل نظر کتل شروع کړۀ او دې اختلافاتو ته ئې د سیاسي اختلافاتو رنګ ورکړو." [viii]

د بایزید روښان متعلق په ټول روښاني ادب کښې چې زمونږ محقیقنو د هغهٔ د تعلیماتو او افکارو په سلسله کښې څومره هم تحقیق کړی دی. خصوصاً ښاغلیو محمد شفیع صابر، حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي، سید تقوي الحق کاکاخېل او قلندر مومند، نو دوي ټول دې نتیجې ته رسېدلې دي چې د بایزید روښان تحریک مذهبي وۀ نۀ چې سیاسي خو ځنې محققین اوس هم په دې نظریه او عقیده کلک دي چې که دې تحریک ته "مذهبي سیاسي" نظریه ووایو نو دا ئې بیخي مکمل تعریف دی ځکه چې د هغهٔ په تعلیماتو کښې دین او سیاست یو د بل مکمل او د مشترک هدف په خوا روان وو نو که په دغه اساس او بنیاد ورته محض مذهبي نظریه ووئیلې شي نو هم بده نۀ ده.
ix

داسې برېښي چې د "پیر روښان او روښاني انقلاب" لیکونکي ښاغلي سېف الرحمان مسعود د محترم قلندر مومند تحقیقي او تنقیدي کتاب او د روښان، خېر البیان او روښاني تعلیماتو یو مکمل او اهم دستاوېز "د خېرالبیان تنقیدي مطالعه" نۀ وي مطالعه کړې. (د ښاغلي مسعود د کتاب په کتابیاتو کښې هم د دغه کتاب نامه نۀ ښکاري) ګنې دا نظریه به ئې نۀ لرله او یا به ئې د خپلې مخصوصې سیاسي نظریې له رویه بایزید روښان خامخا او په وچ زور په سیاسي مېدان کښې نۀ ودرولی.
د بایزید روښان عقیده د اهل سنت والجماعت د عقیدې سره هېڅ تصادم نۀ پېدا کوي. ځکه چې "خېر البیان" کښې د اسلام د پنځو ارکانو پورې تړلې د فقې مسائلو پوره تشریح شوې ده چې د غه تشریح بیخي د حنفي فقې له مخې ده ځکه چې هغهٔ د کاڼي ګرم په سني مذهبي کورنۍ کښې لوئی شوی او روزلی شوی وۀ په دغه حواله بایزید روښان هم سني العقیده وۀ او خپل مریدان ئې هم په دغه مذهبي عقیده کښې دننه تربیه کول لکه دولت لواڼي چې وئیلې دي.

زۀ دولـــــت ســـــني مســـــلم چـــــار یـــــار منمـــــه
هم په خدائی رسول راوړلی دی ایمان ما

او دا چې:

د توحيـــــد وينـــــا مــــې شــــوه پــــه زړۀ نزولــــه
مبــــرا ده لــــه الحــــاد هــــم لــــه حلولــــه

ګويا ددولت دغه بيت د اخون درويزه بابا د هاغه الزامونو جواب هم ګڼلی شو چې پکښې ئې په بايزيد روښان د رفض، جبر، اباحيه او حلوليه نه علاوه د کفر او الحاد او حتی د پيغمبرۍ او خدائي د دعوې کولو په سلسله کښې لګولې وو. (د دولت لواڼي ديوان- افغانستان چاپ)

د بايزيد روښان فلسفه د وحدت الوجود فلسفه د انسان د وجود معنوي او قلبي هستۍ په څلورو عالمونو کښې تقسيموي چې يو ئې د زړۀ عالم دی بل ئې د نفس عالم دی. دريم ئې د روح عالم دی او څلورم ئې د شيطان عالم دی. د وحدت الوجود په فلسفه کښې روح عالم ته ډير اهميت ورکولی شي د دغې فلسفې تر مخه روح د دائمي او ابدي حقيقت يوه برخه ده چې د لوی روح نه را جدا شوې ده او د انسان د وجود په تيارۀ کالبوت کښې ئې ځای نيولی دی. د دې فلسفې غرض او غايت دادی چې د انسن داسې تربيت وکړي چې د هغۀ په وجود کښې د عظيم روح نه رابيله شوې دغه وړه ذره بيرته خپل اصل ته رجوع وکړي او هم دغه توحيد يا وحدانيت بللی شي. د بايزيد روښان ټول علم او عمل هم د دغې توحيدي يوې نقطې د پاره وۀ او دا اصل تصوفي نظريه او تصوف دی. مختلفو وختونو کښې د مختلفو لارو سالکانو پيرانو بيلې بيلې طريقې او ذريعې را ايستي او خپلې کړې دي چې خپل اصل مقصد او نتيجې ته ځان د مجاهدو او رياضتونو په مرسته ورسوي او ځان او خپل روح د نفس اوشيطان د پنجو نه ازاد کړي او د عناصرو د تيارو نه ئې رابهر کړي او اصل رڼا او ځلا باندې ئې منور او روښانه کړي.

د بايزيد روښان په نظريه کښې دين د سياست نه بيل او جدا نۀ وۀ. د هغۀ د تصوف د طريقې د سلوک مذهبي مقامات کۀ د سنيانو حنفيانو فقې مسائلو او بيا د وحدت الوجود سره تړلي وو نو سياسي مقامونه ئې د خپلو اتو مقاماتو پورې مربوط کړي وو

چې شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت نومیږي، دغه اتهٔ واړه مقامات ښاغلي سیف الرحمان مسعود خپل کتاب کښې داسې تجزیه او تحلیل کړي دي چې د یوهٔ مترقي تر نظره پرې یوهٔ پښتون مسلمان د خپل تکامل په لور ډېره خوش اسلوبۍ سره تلی او د خپل مقصود کعبه تر لاسه کولی شي.

- (بایزید روښان) د پښتنو له پاره ئېد ملي خپلواکۍ لار (شریعت) غوره کړو.
- پښتنو ته ئې په وقار او په شان او شوکت سره د ژوند کولو طرز (طریقت) وروښودلو.
- پښتانهٔ ئې د خپل مستقل او ځانګړي وجود د (حقیقت) څخه خبر کړل.
- پښتون اولس ته ئېد (یوې مورنۍ) او (واحدې کورنۍ) په بنیاد د (معرفت) درس ورکړو.
- د قندهار نه نیولی تر ننګرهار پورې ئې د پښتنو تر منځ (قربت راوستو.
- د پښتنو د خورو ورو قبیلو تر منځ ئې (وصلت) قائم کړو.
- په پښتنو کښې ئې د یوهٔ واحد ملت په حېث د (وحدت) روحیه رامنځ ته کړه.
- او په پای کښې ئې پشتون قوم ته په یوه ازاد او خپلواک وطن کښې د (سکونت) زېرې ورکړو. [x]

د پروفېسر ډاکټر محمد اقبال نسیم خټک د وینا مطابق:

" بایزید پیر روښان وهٔ که پیر تاریک خو له دې خبرې انکار نهٔ شي کېدلی چې هغهٔ په خپل دور او په وروستي تاریخ نهٔ ورانېدونکي نقشو نه پرېښي دي. هغهٔ په اول ځل د مذهب او پیرۍ مریدۍ په نامه مختلف پښتانهٔ قبائل په یو پلېټ فارم راجمع کړل. دوي ئې منظم او متحد کړل چې نهٔ ورته د کوم خارجي طاقت حمایت میسر وه او نهٔ ئې خپل وسائل دومره وو چې د یوهٔ لوئی طاقت خلاف جنګېدلی وهٔ بیا هم تر نیمې پېړۍ د هغهٔ اولاد دهلي د (مغلو) شاهانو په خلاف په جنګ کښې پاتې شول او خپل علم (بېرغ) ئې چرته سر ښکته نهٔ کړهٔ." [xi]

د تېر بحث خلاصه د اشوه چې روښاني تحريک اولنی تحريک دی چې د پښتو ژبې بنيا ئې اېښې دی. پښتو ژبې ته ئې د الفبا تورو د ليک دود نه واخله تر ښکليو او ښائسته ديوانونو او مکملو علمي او ادبي کتابونو پورېداسې لويه، درنه ديني، علمي او ادبي پنګه ورکړه چې پښتو پرې ډېره شته منه شوه. د دين په کار کښې ئې ښۀ خدمات تر سره کړل. پښتنو ته ئې په اول ځل د فقې علم او په اسلامي شريعت پورې تړلې مسئلې پخپله مورنۍ ژبه پښتو کښې بيان کړې. د وحدت الوجود ګرانه کړکېچه او کړلېچنه فلسفه د دغه تحريک په برکت پښتنو سره په ډېره اسانۍ متعارف او عملي کړې شوه چې د اولس د ايماني قوت، ژبې، ادب او فرهنګ د ودې او ترقۍ ذريعه ورګرځېده.

روښاني تحريک پښتنو کښې په اول ځل د يوې ډلې بنياد کښېښودۀ چې د دين سره سره ئې د سياست لوري ته هم فهم وۀ د دغه تحريک په برکت پښتنو کښې ملياو سياسي شعور را پيدا شۀ. خپل کورني او بهرني دښمنان ئې وپېژندل او د هغوي په وړاندې لکه غرونه ودرېدل. دا اولنی تحريک وۀ چې د پښتنو د وطن د کوټلې خپلواکۍ د پاره ئې توره واخسته. پښتانۀ ئې د ازادۍ د ضرورت، اهميت، و معنې نه خبر کړل. دا هم د روښانيانو برکت دی چې پښتانۀ تر اوسه د چا غلامۍ ته سر نۀ ټيټوي. هېڅ يو اورنګ او پېرنګ ته سلامي نۀ شول او په دې هر څۀکښې د پير روښان او د هغۀ د تحريک ډېر لوی لاس او عظيم کردار دی.

د محترم دوست محمد خان کامل مومند په خيال " د نيم مذهبي نيم سياسي روښاني تحريک باني بايزيد انصاري اورمړوۀ [xii] دوي د ښاغلي قلندر مومند دا ډېره ښۀ او کوټلې خبره هم را نقل کړې ده چې :

> "....هغۀ (بايزيد روښان) د پښتنو د منورينو يوه لويه طبقه راغونډه کړه او د هغوي صلاحيتونه ئې را برڅېره او جوت کړل. د دې د نتيجې په طور په پښتونخوا کښې يو لوئی صوفيانه ادب پيدا شو چېد هغۀ د يوه لويه برخه نۀ صرف له علمي نقطه نظره بلکې د فن او ادب له رويه هم ډېره اوچته او د ستائينې وړ ده. دا ادب اکثر او بېشتر په نظم کښې دی او د دۀ په تخليق

کښې د ارزاني خوېشکي ، مخلص، د بایزید د نمسي مرزا او شېخ دولت لوڼ نامېخاص طور سره د یادونې دي." [xiii]

دې لړ کښې ښاغي ډاکټر شېرزمان طائزي لیکلي دي چې:

"د بایزید انصاري سیاسي دښمن او د عقیدې مخالف اخون درویزه هم مجبور شۀ چې د هغۀ مخې نیولو د پاره پښتو په کار راولي. د پیر روښان او اخون درویزه سیاسي او مذهبي جګړه په ځای پښتو ژبې ته ډېره زیاته فائده ورسوله صوفیانه او مذهبي افکار پکښې سم له ورایه ښکاره شول. نثر او نظم دواړه منځ ته راغلل. دا یون لا ختم نۀ وۀ چې خوشحال خان خټک هم لکه د پیر روښان د مُغلي حکومت راولاړ شوی وۀ خو مغلو د دۀ مقابلې ته بل اخون درویه پېدا نۀ کړی شۀ. د خوشحال قلم کښې ډېر زور وۀ. او دې مېدان کښې ورسره خپل زامن او نمسي هم ودرېدل." [xiv]

خوشحال بابا د خپل علمي، ادبي او سیاسي شعور په تناظر کښې د بایزید روښان تحریک ته د سوات نامې په یو بېت کښې فساد [xv] وئیلی دی. دوېمه مصرعه کښې د فساد په ځائې لفظ ارشاد راغلی دی. چې معنوي طور سم نۀ برېښي او اصل شعر دا دی:

هغـــه وخـــت چـــې پیـــر روښـــان فســـاد بنیـــاد کـــړ
پښـــتنو ورســـره ټنیـــګ کـــار د فســـاد کـــړ

محترم سید رسول رسا د "ارمغانِ خوشحال" په مقدمه ۱۴ مخ کښې لیکلي دي چې :

"عجیبه خبره ده چې خوشحال خان خټک د بایزید د عقائدو یا سیاسي تحریک په پېړه یا مخالفت کښې له هېڅ قسمه جامع تنقید یا تحسین په نظم یا په نثر کښې نۀ دی پرېښی حالانکې بایزید د خوشحال خان زمانې ته

ډېر نژدې وۀ او په سیاسي طور خوشحال خان د بایزید د عقائدو مخالف وۀ
لکه چې دې شعر نه ئې معلومیږي"

زۀ د درویــــزه غونــــدې ایمــــان ښــــیم وده تــــه
دی د پیــــر روښــــان غونــــدې د کفــــر کــــا تلقــــین

د رسا صاحب پورتني اقتباس او د خوشحال بابا په شعر محترم قلندر مومند هم خپل تحقیقي او تنقیدي کتاب د خیرالبیان تنقیدي مطالعه کښې د (قسح ۱۲۸ مخ) نه تر ( قصه ۱۸۵ مخ) پورې تفصیل سره بحث کړی دی او وړومبۍ جمله ئې دا لیکلې ده چې " د بایزید انصاري په مخالفینو کښې یو لوی نوم د خوشحال بابا دی." قلندر صاحب خوشحال بابا د بایزید روښان د عقائدو خلاف ګڼي. خو د بایزید روښان تحریک ته په ښۀ نظر ګوري چې خوشحال بابا خپل یو بیت کښې د دغه تحریک د پاره لفظ "فساد" په کاروي. "فساد" د "فتور" هم معني لفظ دی. چې خوشحال بابا د خپل باچا ایمل خان مومند د تحریک د پاره په دې بیت کښې استعمال کړی دی چې :

د ایمل فتور اغاز شۀ + د مومندو هم عنان شوم

نو که د ایمل خان تحریک د خوشحال بابا په نظر کښې "فتور" وي نو د پیر روښان تحریک ته کۀ هغه "فساد" ووائي نو زما په خیال له دې دا نتیجه اخذ کول صحیح نۀ دي چې خوشحال خاند بایزید انصاري دښمن وه. ځکه چې په "فتور" او "فساد" کښې د معنو اشتراک شته او که د یو د مدح په مقام استعمال شوی وي نو بل خامخا د ذم مقم ته منسوب کول صحیح کار نۀ" ( ۱۷۳ مخ)
خو کوم شعر کښې چې د روښان پیر د نظریې غندنه شوې ده هغه په تاریخ مرصع، ارمغان خوشحال او د کابل چاپ "سوات نامه" کښې داسې دی ګې :

د روښـــــان خېـــــر البيـــــان ئـــــې وۀ ليـــــدلی
هغـــــه هـــــم مجهـــــول بيـــــان وۀ ناپســـــندلی [xvi]

او له دې ئې دا نتيجه اخذ کړې ده چې ګڼه خوشحال بابا د روښان "خېر البيان" ته مجهول بيان وئيلي دي. حالانکې دغه پورتنې بېت کښې لفظ "ئې" د اخون دروېزه بابا د پاره استعمال شوی دی او که چرې خوشحال بابا خپل ځان يادولو نو بيا به ئې د لفظ "ئې" په ځائی " مې" لفظ په کارولو. معنی ئې دا ده چې اخون دروېزه د روښان خېر البيان ليدلی وۀ او هغه ئې مجهول بيان ناسپندلی وۀ لکه چې د اخوند دروېزه بابا د اعتراضاتو نه هم څرګنده ده چې "پير روښان" په "پير تاريکي" يادوي او "خېر البيان" ته " شرالبيان" يا " خرالبيان" وائي او داسې نور خو د دغه بېت يو قرات مونږ د همېش خليل صاحب ترتيب کړې، "سوات نامه" کښې داسې لوستی دی او وړاندې مو هم درج کړی دی چې:

د روښـــــان خېـــــر البيـــــان ئـــــې وۀ ليـــــدلی
د هغـــــۀ پـــــه مضـــــمون نـــــۀ وۀ پوهېـــــدلی

او د دغه بېت موجودګۍ کښې دا خبره يقيني شي چې د اخوند دروېزه په مقابل کښې خوشحال بابا د خېر البيان په مضمون (مندرجاتو) پوه شوی وه او د هغۀ د تحريک سره سره ئې د هغۀ عقائدو سره هم اتفاق وۀ ګڼې خوشحال بابا د سوات نامې په دغه فصل کښې دا بېت ځنګه وئيلو چې :

د روښـــــان مريـــــد محکمـــــه وو پـــــه ديـــــن کښـــــې
دروېـــــزه رخنـــــه اغـــــازه کـــــړه پـــــه ديـــــن کښـــــې [xvii]

د سوات نامې هم دغه فصل کښې په مخ ۹۲ يو بل بېت هم د روښان پير نامه لري چې د اورکزيو او افريديو د رهزنۍ او عنيدۍ د عمل غندنه پکښې هم شوې ده :

د روښــــان بخـــــره ورکــــزي او افريـــــدي شـــول
هغــــه خـــوښ پــــه رهزنــــې پــــه عنيــــدی شـــول [xviii]

او دغه بېت کښې د روښان د بخرې سره د ورکيو او افريديو تړون او تعلق په بنياد " د خوشحال خان خټک کليات" کښې د نون د پټې د يو غزل چې مطلع او بل شعر ئې دا رنګ دی چې:

نـــس مـــې افريـــدی دی څــۀ غـــم نـــۀ لـــري د ديـــن
ښـــه فکـــر ئـــې لـــږ دی ډيـــر دی بـــدو وتـــه شـــين
زۀ د دروېـــــزه غونـــــدې ايمـــــان ښـــيم وده تـــــه
دی د پيـــــر روښـــــان غونـــــدې د کفـــــر کـــــاتلقين[xix]

په حقله هم قلندر مومند صاحب خپل مذکوره کتاب کښې تفصيلي بحث کړی دی او په دې نتيجه رسېدلی دی چې د افريدو سره د روښان پير تلازمه صحيح ده په دې بنياد چې فقط د هوتي چاپ ديوان خوشحال خان خټک ۱۸۷۰ء چاپ او ۱۹۲۹ء چاپ کښې دغه بېتونه داسې راغلي دي چې :

نـــس مـــې اپريـــدی دی څـــۀ غـــم نـــۀ لـــری د ديـــن
ښـــۀ فکـــر ئـــې لـــږ دی ډيـــر دی بـــدو وتـــه شـــين
زۀ د پېغمبـــــر غونـــــدې ايمـــــان ښـــئيم و دۀ تـــــه
دی راتـــــه شـــېطان غونـــــدې د کفـــــر کـــــا تلقـــــين [xx]

او په دې حقله د قلندر صاحب خيال دا دی چې:

"معنوي لحاظ سره هم د دې دواړو نسخو د دې شعرونو قرات انتهائي ګمراه کن دی. خوشحال بابا د " خپل نس" د "اپريدي" کېدو ثبوت کښې دا وئيل غواړي چې دی (د خوشحال بابا نفس) ځکه اپريدی دی چې د بايزيد روښان د "کفر تلقين" مني او زما هغه خبرې نۀ مني چې د درويزه غوندې پکښې ايمان ښئيلی شوی دی. اوس دلته يوه لويه تلازمه د بايزيد روښان او د اپريدو ده چې د هغې په موجودګۍ کښې "پير روښان" نه بغېر د بل چا ذکر هېڅ جواز نۀ لري." xxi

خو متاسفانه دغه متعلقه ټول غزل وروستو داسې څۀ تلازمه او قرينه هم نۀ لري چې مونږ پرې پوره يقين سره ووايو چې خوشحال بابا يقيناً د "درويزه" او د "روښان پير" نومونه اخستي وو او " پېغمبر " او "شېطان" به ئې ګوندې نۀ وي ياد کړې او کۀ خامخا ئې د درويزه نامه اخسته نو د پير روښان به ځائی په کار وه چې " د کفر د تلقين" تلازمې سره ئې د "پير تاريک" کلمات استعمال کړی وی ولې خوشحال بابا چرته هم بايزيد روښان ته پير تاريک نۀ دی وئيلې او هر چرته ئې د "روښان" په نامه ياد کړی دی او دا د دې خبرې ثبوت دی چې خوشحال بابا نۀ صرف د روښان پير د تحريک سره نظرياتي طور ملګری وۀ بلکې د عقيدې په لحاظ ئې هم د هغۀ سره مرسته او اتفاق کولو چې په سوات نامه کښې ئې د درويزه غندنه او د روښان ستائينه کړې ده داسې برېښي چې دوخت تېرېدو سره سره کاتبانو په نسخو کښې لاس وهنې کړې دي او د خپلو خپلو نظريو او عقيدو سره سم ئې شعرونه وران ويجاړ کړي اوقراتونه ئې ورله بدل کړي دي يا ئې پکښې له ځانه د تنسيخ او اضافې نه کار اخستی دی.

دې سلسله کښې اول زۀ د خوشحال بابا هاغه مشهور غزل يادوم چې مطلع ئې دا رنګ ده چې:

اورنګزيب چې ارائش د تخت و تاج کا
تخت و تاج به ئې مرګی تاخت و تاراج کا

د رحمان بابا په دېوان کښې هم په څهٔ نا څهٔ شکل موجود وهٔ او د کاتبانو دا کارنامه محترم دوست محمد خان کامل مومند له هر چا اول خپل کتاب "رحمان بابا" (۱۹۴۷ء) کښې د ۲۰ نه ۲۴ مخونو کښې ښکاره کړې، د بحث موضوع ګرځولې ده او په ۲۳ او ۲۴ مخونو ئې د نتيجې په طور دا جمله ليکلې ده چې : " اميد دی چې له دېو وجوهاتو به ښاغليو لوستونکيو ته جوته شوې وي چې دغه غزل چې بحث پرې وشو د خوشحال بابا دی او کاتبانو په لږ ډېر حزف او تصوف د رحمان بابا په ديوان کښې هم شامل کړی دی."

دې پسې ئې د خوشحال بابا او رحمان بابا په ديوانونو کښې يو بل مشترک غزل د بحث موضوع کړی دی چې مطلع ئې دا رنګ ده:

وخت د نو بهار دی زهٔ جدا له خپله ياره
دريغه دريغه چې بې ياره ځې بهاره

او دې پسې ئې د دې غزل د نورو شعرونو په لفظي او معنوي اشتراک د بحث نه پس څنو نورو مشهور و شعرونو باندې هم د خپل تحقيقي او تنقيدي مزاج تر مخه کوټلی بحث کړی دی او په دې نتيجه رسېدلی دی چې :

"د دې بحث نه پس بايد چې لکه مې وړومبی عرض وکړو. مونږ به يا دا منو چې اصل غزل د خوشحال بابا دی او د چا کتاب له لاسه د بې خونده تصوفنه پس د رحمان بابا په ديوان کښې شامل شوی دی او يا به دا فرض کوو چې اصل غزل د رحمان بابا دی او د خوشحال بابا د ديوان کوم پوه او هوښيار کاتب زيات ښهٔ کړی او د هغهٔ په ديوان کښې ئې ليکلی دی." (رحمان بابا ۶۹ مخ)

په کتابونو او خصوصاً قلمي نسخو کښې د کاتبانو د بې احتياطۍ له کبله د لاس وهنې او تصوفاتو قلندر مومند صاحب خپله هم قائل دی." د خېر البيان تنقيدي

مطالعه" کښې چې کله د "تاریخ مرصع" او " تذکرة الابرار والاشرار" په حقله د ځینو مشترکاتو خبره ختموي نو د نتیجې په طور داسې لیکي چې:

"ګرانو لوستونکیو ته به احساس شوی وي چې د دواړو تاریخي دستاویزونو په تفصیلاتو کښې دومره اختلاف دی چې د هغې په بنا دا نتیجه قائمېدی شي چې د تاریخ مرصع د تصنیف په زمانه کښې د "تذکرة الابرار والاشرار" شکر داسې نۀ وه لکه چې اوس دی او ځکه نو دا فېصله کول اساس شي چې "تذکرة الابراروالاشرار" کښې هم لکه د "مخزن" کاتبانو او نسخه نویسانو د خپلې خوښې یا بې احتیاطۍ له کبله لاس وهې کړې دي. ځکه نو له تاریخي اعتباره دا کتاب هم د استناد درجه بائیلې او کم از کم د بایزیدانصاري خلاف ترې تمسک کول یو ډېر غېر محتاط عمل دی". (۱۵۲ مخ)

او دومره لرې ورپسې ولې ځو او د پخوانیو کاتبانو نه څه ګیله. زمونږ وسنیو لیکلي لوستلي شاعرانو، ادیبانو او محققینو کښې هم دغه ناوړې عمل له چا نه کم او پټ پناه نۀ دی ایا دوي ته مونږ عالمان، فاضلان او منورین دانشوران وئیلی شو. په "پښتومجله" کښې به د ښاغلي ډاکټر راج ولي شاه خټک اداریه کښې دا فاسوس ناک صورتحال چا نۀ وي لوستی چې :

".....ولې څۀ وکړو د هغه ناپوهه لیکونیو سره چې کوم شعوري یا لا شعوري ډول دې نسخو ته نقصان رسوي. دا په یو لحاظ په قامي امانت، ادبي امانت د یوې ډاکې او غلا مترادف ده، چې څوک د خپل غلط تحقیق صحیح ثابتولو د پاره په دې قلمي نسخو کښې په غلا تحریف کوي او د خپل ځانه جوړه کړې شوې مفروضې او فرضي تحقیق ته د دروغو جواز او ثبوت پیدا کوي. د پښتو اکېډیمۍ په لائبریرۍ کښې ځینې داسې قلمي نسخې اوس هم موجودې دي چې په غلا پکښې د تحریف ناولی کار کړی شوی دی" [xxi i]

داکټر صاحب چې دې سلسله کښې د کومو قلمي نسخو نامې اخستل مناسب ګڼلي دي په هغې کښې " تاریخ بدرجهان" ، " د ارزاني خوېشکي دیوان" او د فقیر جمیل

بېګ" دل تذکرة الاؤلياء" ښکاره دي ولې خدائی زده چې نورې به څومره علمي، ادبي او ديني قلمي نسخې وي چې هغې کښې به دغه ناوړيو عناصرو خپل غلۀ حرکتونه کړي دي.

"د خپلو کړو نفسياتي خواهشونو د تسکين په خاطر په ښاغليو قامي مشرانو، قهرمانانو بې ځايه تهمتونه لګول هسې هم ښۀ کار نۀ دی او بيا دا چې د تاريخي حقيقتونو په څېره څوک د خپل متعصب باطن د سياهۍ شيندلو هڅې کوي. خپل تعصب، تنګ نظرۍ او دروغو د پاره د قامي، ادبي او علمي سرمائې زيان هم په خاطر کښې نۀ راوړي.

اولس دې په خپله فېصله وکړي چې داسې کسان د ژبې ادب او قام څومره تاوان سبب کيږي چې هم د ژبې ادب او څېړنې په نوم د سوچه او د فخر وياړ ادبئ او قامي تاريخ سره لوبې کوي." [xxiii]

ما خپله چې کله د صدر خان خټک يوه قلمي نسخه د اکېډيمۍ لائبريرۍ کښې کتله نو د هغې په دننه اضافي پانۀ دا بيت ليکلی شوی وۀ چې:

زۀ د درويــــزه غونــــدې ايمــــان ښــــئم ودة تــــه
دی د پيــــر روښــــان غونــــدې د کفــــر کــــا تلقــــين

حال دا چې د صدر خان خټک په کتاب کښې د دې بيت هډو څه تک او منطق نۀ جوړيږي. زما تجويز دی چې د پښتو اکېډيمۍ ځوان او توانا ډائريکټر ډاکټر راج ولي شاه خټک صاحب دې يا خو د اکېډيمۍ د لائبريرۍ په دغو قلمي نسخو اول په خپله په علمي، ادبي او تحقيقي بنيادونو کار وکړي او که دوي د خپلو مصروفياتو له کبله وخت او فراغت نۀ لري نو د اکېډيمۍ کوم ريسرچ سکالر افيسر ته دې دغه ذمه واري په غاړه کړئ او که دغه هم نه وي نو بيا دې ئې د ايم-فل يو طالب علم ځان لره د تحقيق بنيادي موضوع وګرځوي. زما خيال دی چې داسې به هاغه ټولې نسخې سر دوباره

وکتی شي او د تحریف ، ترمیم او تنسیخ ټول تفصیلات به د مکملو جزیاتو سره مخې ته راشي.
قلندر مومند صاحب دا هم وئیلي دي چې دوس سره د خوشحال باباد زوي عابد خان د لاس لیکلې کومه نسخه ده یا راوړتي چې لیکلې ده، یا سعید ختک لیکلې ده او د اکېډیمۍ د دوو قلمي نسخو نه علاوه چې د محمدي صاحبزاده د پاره کومه قلمي نسخه لیکلې شوې وه نو دېو ټولو کښې د دریږه او روښان نامې لرونکي شعرونه دي[xxi v] نو دا هم کېدی شي چې دېو ټولو نسخو کښې په ترتیب دغه ترمیم شوی یا اضافه شوې شعرونه راروان وي او هاغ نسخه اول صحیح وي چې د هوتي چاپ دیوان ترې اول په ۱۸۷۰ء او بیا په ۱۹۲۹ء کښې منظر عام ته راغلی د ېاو دا روغه قطعه خو ئې ټوله د افریدیو په خوي خصلت او معمولاتو لیکلې ده چې:

افریــــــدي پـــــه خـــــوي پـــــردي دي
پـــــه یـــــارۍ ئـــــې نفـــــرین
څـــــهٔ تیـــــراه څـــــهٔ ئـــــې وګـــــړې
څـــــهٔ ئـــــې ملـــــک څـــــهٔ ئـــــې آئـــــین
دوه درې ختـــــــې غلـــــــه واخلـــــــي
څـــوک چـــې ښـــهٔ وکـــا ســـبادین
نـــهٔ ئـــې نمـــونځ نـــهٔ ئـــې روژه شـــته
د شـــــیطان لـــــري تلقـــــین
څکـــــه هســـــې اولجـــــۍ دي
چـــې نـــهٔ رزق لـــري نـــهٔ دیـــن
یـــو لعنـــت پـــه افریـــدي شـــه
ســـل لعنـــت ئـــې د دیشـــین

افریـــــــدي لاڅـــــــۀ پـــــــه رنـــــــګ دي
دیشـــــــین لادي تـــــــرې بـــــــې دیـــــــن
خدائی دې دواړه قومه ورک کا
پـــــــه دا زر ورځـــــــې امـــــــین

کلیات . ۸۸۲ مخ

د پورتني قطعې څلورم بېت د خصوصي توجه وړ دی چې د شېطان د تلقین خبره پکښې شوې ده. او دا بېت د وړاندې ذکر شویو بېتونو " د کفر د تلقین" او د روښان" د نامې د تلازمې په سلسله کښې یو وارې بیا څېړل په کار دي.
ځکه نو زما په خیال د محترم قلندر مومند دغه توجیه، منطق، تاویل او تشریح سمه نۀ برېښي چې ګنې د "افریدیو" په موجودګۍ کښې د پیر روښان" نه بغېر د بل چا ذکر هېڅ جواز نۀ لري.
یوه بله اهمه خبره دا ده چې د خوشحال بابا دیوان کښې د "تیراه" او "افریدیو" نامې لرونکي نور شعرونه هم شته او په هغې کښې فقط د هغوي د خوي خصلت خبره خو شوې ده ولې د پیر روښان د تلازمې ضرورت پکښې چرته هم نۀ دی پېښ شوی لکه دا بېتونه چې د خوشحال بابا خپله تجربه او مشاهده ښئي:

د تیراه اوبۀ دې وڅښې خوي دې نور شه
افریـــــــدیو غونـــــــدې خبـــــــرې د اولجـــــــو کـــــــړې

(کلیات ۱۱۰ مخ)

د تیراه په ملک کښې نشته د اذان الله اکبر

کلیات ۹۰۱ مخ

ستا به څۀ یاد کړم تیراه
چې د زړۀ وکړم پرېن
د ورکزیو، افریدیو
په هېداد باندې درون
(کلیات ۸۸۸ مخ)

دا تاراج لکه شېخان کاندې په مکر
افریدې نۀ دې دا هسې تاراجي

(کلیات ۳۴۹ مخ)

هم دغه مضمون ئې د غزل په شکل د یو بېتونو کښې هم بیان کړی دی چې:
نشته بانګ د مؤذن په درست تیراه
مګر واورې بانګ د چرګ په سحرګاه
کۀ ورکزي ئې سراسر واړه ګمراه دي
افریدي دي تر ګمراهو لا ګمراه
د اسلام ارکان احکام حلال حرام شته
افریدي، اورکزي نۀ دي پرې اګاه
نۀ ئې نمونځ د جنازې نۀ ئې امام شته
نۀ زکوة نۀ سرسایه نۀ د زړۀ تراه

کلیات ۳۱۴ مخ

له دغو ذکر شویو بېتونو علاوه خوشحال بابا خپله شاعرۍ کښې د بایزید روښان د نورو مریدانو چې د خپل وخت او زمونږ د لرغوني شاعرۍ اهم اوغوره شاعران دي تذکره خپلو شعرونو کښې وخت په وخت او ځائی په ځائی کړې ده. " د "ړ" په پټۍ یوه

قصيده کښې، چې د خپلې شاعرۍ او شاعرانه تعلۍ باره کښې ئې ليکلې ده او مطلع ئې داسې ده چې:

په پښتو شعر چې ما علم بلند کړ
د خبرو ملک مې فتح په سمند کړ
يو په حال او په ماضي کښې هسې نهٔ وه
چې ښکاره ئې د خبرو راته خوند کړ [xxv]

او د بېسې د روښاني شاعرانو چې د خوشحال متقدمين او معاصرين دي او د لويو شاعرانو غوندې ئې يادوي، د ميرزا خان انصاري، ارزاني خوېشکي، دولت لواڼي او واصل ذکر داسې کوي چې:

د ميرزا ديوان مې و ماندهٔ په ګوډي
مسخره مې ارزاني خويشکی زمند کړ
کهٔ دولت وهٔ که واصل وهٔ کهٔ دا نور وو
په خبرو مې د هر يو ريشخند کړ [xxvi]

او بيا ورپسې خپله شاعرانه تعلي (خان ستائينه) داسې کوي چې:

قتلمې مې ورته سازې کړې د قندو
د وربشو په ډوډيو چې چا شخوند کړ
لعل و در مې ورته وپېئيل د نظم
د مشکنو بنجاره مې مستمند کړ [xxvii]

خوشحال بابا کهٔ خپله دغه قصيده کښې يو پله دا حقيقت په ډاګه کوي چې د دغو يادو شويو شاعرانو نه علاوه (چې يوه قطعه کښې قلندر هم ياد وي) نور شاعران په ماضي او حال کښې نشته چې د خبرو خوند ئې ورښکاره شوی وی يا ورښکاره شي نو بل

لوري ته د دغو شاعرانو تذکره کول دا خبر راکوي چې د خوشحال غونډې عظيم شاعر او اوچت شخصيت ئې يادوي نو هغوي به يقيناً چې نۀ صرف ښۀ شاعران وي بلکې د لوئی او اوچت ادبي مقام څښتنان به هم وي لکه چې خپل يو مشهور نظم کښې ئې باقاعده په تول تللي دي او د خپلې خود تنقيدی له عمله راتېر کړي دي او د خپل عصر په شاعرانو ئې خپله يوه تنقيدي محاکمه هم کړې ده هغه نظم دا دی:

(هر)چې لاف وهي د شعر
نن په دا دور دي ډېر
خدائی دې نۀ (کا چې) به وايم
حال د دېو تېر و بېر
خ،ک پاوی خوک نيم پاوی دی
قلندر پکښې نيم سېر
(چې) زمونږه په حساب دی
هيڅ مې نۀ دی واصل هېر
بل دولت فقير درې پاوه
زۀ ترې څو شرشاهي تېر
چې په سرائې کښې به پيدا شي
پس له قرنه پوره سېر [xxviii]

دغه نظم کښې "قلندر" زما د بحث نه خارج دی. واصل او دولت روښاني شاعران دي. د دوي په حقله به وروستو خبره کووم خو اول د ملا ارزاني خوېشکي ذکر کوم چې دی د پښتو وړومبی ديوان لرونکی شاعر دی. د دۀ د پيدائش او وفات صحيح نېټې نۀ دي معلومې البته پيدائش ئې د کال ۹۲۵ هـ خواؤشا اټکل کېدی شي او ژوند ئې تر کال ۱۰۱۰ هـ پورې يقيني دی.[xxix] ارزاني د پير روښان د تصوفي مسلک سره کلک تړون لرلو او په دغه مسلک کښې د خلافت په درجه فائز وۀ. د دۀ شاعري د روښاني تصوف

يعنې وحدت الوجود تفسير او تبليغ دی. شارعي ئې د صوفيانه فکرونو، رازونو او رمزونو نه ډکه ده. دی په قبيله خوېشکې وۀ په قصور(پنجاب) کښې ئې سکونت کولو. مزار ئې په خور چې هندوستان کښې دی چې د ډيلي اولي ګرځ تر منځه يو وړوکی ښار دی.

ملا ارزاني د عربۍ، فارسۍ اوپښتو ډېر لوئی عالم وه. د پښتو نه علاوه ئې په فارسۍ عربۍ او هندۍ کښې هم شاعري کوله. د پښتو شاعرۍ کښې ئې د عربۍ، فارسۍ او هندکۍ ټکې ډېر استعمال کړي دي. اکثر شاعري ئې په لنډ بحر کښې ده او ډېرې علمي نکتې ئې پکښې بيان کړي دي. د دۀ شاعرۍ د مرزا خان انصاري، دولت لواڼي، واصل روښاني، علي محمد مخلص او خوشحال بابا د پاره لاره هواره کړې او زميه برابر کړې ده اود شاعرۍ نه ئې داسې معلومېږي لکه چې د پښتو ژبې د ودې او پر مختګ د پاره ئې شعوري هڅې کړې وې او ويښ احساس ئې لرلو.[xxx] ارزاني د يو مکمل ديوان نه علاوه پهنثر کښې هم ليکل کړي دي او د دۀ نثر ډېر ساده اسان او فصيح او بليغ دی. خو د بايزيد روښان د کلکې ملګرتيا په سلسله کښې او په زياتو عليم موضوعاتو د پوهې له کبله پرې د اخون درويزه له اړخه يو الزام لګېدلی دی. چې د خېر البيان په ليکلو کښې زياتې علمي نکتې د ارزاني ليکنې دي. د دې په صفائۍ کښې ډاکټر مير وليخان محسود د " مقصود المؤمنين" د انګريزۍ ترجمه کښې ليکلي دي چې :

"د خلقو دا خبره غلطه ده چې ملا ارزاني د بايزيد د پاره په "خېرالبيان" کښې څۀ کمې بېشې کړی دی ځکه چې يو خو د دې خبرې څۀ تحريري ثبوت نشته . دوېمه د اکه چرې ارزاني داسې کار کړی وی نو داخون درويزه په قول کله چې هغه د بايزيد انصاري د مسلک نه منحرف شۀ نو په جار به ئې د دې خبرې اعلان کړی وی ولې نۀ خو د دې خبرې څۀ تحريري ثبوت شته چې ارزاني د بايزيد د مسلک نه منحرف شوی دی او نۀ د دې چې هغه د "خېرالبيان" څۀ برخه ليکلې ده." [xxxi]

د مېـــــرزا ديـــــوان مـــــې ومانـــــده پـــــه ګـــــوډي
مســــخره مـــــې ارزانـــــي خوېشـــــکي زمنـــــد کـــــړ

خوشحال بابا خپل دغه بېت کښې د ارزاني خوېشکي سره مېرزا خان انصاري هم ياد کړی دې چې د نور الدين زوئی او د پايزيد نمسی و. د دهٔ د پېدائش صحيح نېټهٔ نهٔ ده معلومه خو د وفات کال ئی د تاريخي سند له رويه ثابت دی چې دولت لواڼي ئې خپل يو تاريخي بېت کښې تاريخ دا رنګ بيان کړی دی چې:

د دکن په جنګ شهيد شهٔ خوشنود اوسه
په تاريخ د زر څلوربېښت د دهٔ ګزر وهٔ [xxxi i]

له دغه بېته دا څرګندېږي چې مېرزا خان انصاري د دکن په يوهٔ جنګ (۱۰۴۰ھ) کښې شهيد شوی دی. مرزا خان انصاري د پښتو وړومبی غزل نګار دی چې پښتو کښې ئې د معياري او په ټول تللي غزل ابتدا کړې ده او ځکه خو ی خوشحال باپا وينا ته په تول تللي وېنا وائي چې:

لـــه جانانـــه پـــه پښـــتو کښـــې مـــا ميـــزان ليـــدلی نـــهٔ دی
مېـــــرزا بـــــه دا زبـــــان کـــــهٔ وئيـــــل کـــــړي دي تللـــــي

دی د يو ښهٔ غزل نګار سره سره يو لوئی عالم فضال شخصيت او په روحاني طور د وچتې مرتبې خاوند وهٔ. د پير روښان پېرو کار وهٔ او په خپله شاعرۍ کښې ئې د پير روښان د پاره د ډېر زيات عقيدت او احترام څرګندونه کړې ده. اکثره شاعري ئې په تصوفي افکارو مشتمله ده چې د بايزيد روښان د وحدت الوجود د نظريې ښکاره مبلغ ښکاري خو د تصوف نه علاوه ئې په کلام کښې د روماني شاعرۍ نښې نښانې هم په

نظر راځي. د حالنامې د بیان له رویه دی د صورت او سیرت دواړو په لحاظ ښکلی او کوتلی ځوان وۀ او د یوۀ منفرد مقام څښتن وۀ. دې یو جهان دیده شخصیت وۀ چې اکثر ژوند ئې په هندوستان کښې تېر کړی دی او هم هلته وفات او دفن دی خو ځنې محققین ئې تیراه سره تعلق څرګندوي. xxxiii

کـــــۀ دولـــــت وۀ کـــــه واصـــــل وۀ کـــــه دا نـــــور وو
پـــــه خبـــــرو مـــــې د هـــــر یـــــوۀ ریشـــــخند کـــــړ

خوشحال بابا په خپل دغه بېت کښې دولت لواڼی سره د واصل روښاني یاد کړی دی چې یو بل بل بېت کښې ئې ورته "دولت فقیر" هم وئیلي دي او هلته ئې د دۀ شاعرانه درجه درېو پاوو (پاو کم سېر) ته رسولې ده او خپل ځان ئې ترې خو سر شاهۍ تېر (زیات) یاد کړی دی. د دې دولت فقیر نامه شېخ دولت الله وۀ چې د فقیر دولت او د قبیلوي نسبت له کبله د لواڼي په نامه هم یادیږي. دمور له خوا وردګ او د پلار له اړخه حسن خېل لواڼې وه. د پلار نامه ئې داداو وه. د دۀ د پېدائش صحیح تاریخ هم لکه د پښتنو د ډېرو شاعرانو په رنګ نه دی معلوم. خو ژوند ئې د کلام د داخلي شهادت له رویه تر **۱۰۵۸**هـ پورې یقیني ی او د پېدائش نېټه ئېد ځنو محققینو په خیال د ۱۰۰۰ هـ کال خواوشا قیاس کولی شي او په دې لحاظ دی د خوشحال بابا هم عصر دی چې د خپل دور په شاعرانو کښې ئې ذکر کوي. دولت فقیر هم لکه د نورو روښاني شاعرانو عالم فاضل سړی وۀ. د بایزید روښان خاص مرید او عقیدت مند وه. دۀ خپله شاعرۍ کښې د پیر روښان نه علاوه د هغۀ د زامنو او نمسو صفت هم کړی دی او د ارزاني، مخلص او د خپل استاد مېرزا خان انصاري نه بل خک شاعر نۀ مني. په شاعرۍ کښې ئې د بایزید روښان د تعلیماتو تبلیغ او اشاعت کړ یدی. دې په روښاني مسلک کښې د خلافت په درجه سرفراز شوی دی. د ژوند زیاته برخه ئې په هندوستان کښې د پیر روښان د نمسي الهداد (رشید خان) سره په دکن، اورنګ اباد، برهان پور او

رشيد اباد کښې تېره شوې ده. د جلال اباد سره هم خپل تعلق څرګند وي خو اخري عمر ئې ټول په رشيد اباد کړی تېر کړی دی. xxxi v

خوشحال بابا خپله شاعری کښې د روښانيانو د يوۀ بل اهم شاعر واصل نامه خپل ځان سره يو شان اخستې او حساب کړې ده او په خپل شمېر کښې ئې راوستلی دی چې په حقله ئې وئيلي دي چې:

(چـــــې) زمـــــونږه پـــــه حســـــاب دی
هـــــېڅ مـــــې نـــــۀ دی واصـــــل هېـــــر

د دې لوئی شاعر واصل روښاني د ژوند حالات هم لا تر اوسه په تيارۀ کښې دې خو اټکلاً وئيلې شو چې دې په ۹۸۰ هـ او ۹۹۰ هـ خواؤ شاه زېږېدلی وي دی شېخ زاده او د شېخ فريد د نسب نۀ وه. د دۀ د شعرونو د لهجې نه اندازه لګي چې دی په بنګښ قبيله کښې پېدا شوی دی. د ديوان له مطالعې ئې ښکاري چې دۀ د هندوستان بېلو بېلو سيمو ته هم سفرونه کړي دي. د دۀ د مړينې نېټه هم تر اوسه نۀ ده څرګنده، خو دومره ضرور ښکاره ده چې دۀ د دبستان مذاهب مؤلف سره له ۱۰۷۵ هـ کال وروسته او تر ۱۰۲۳ هـ کال د مخه کتلي دي xxxv (دا دواړه سنې غلطې بريښي او ترتيب ئې هم ګډوډ دی) ځکه چې د دۀ ژوند تر ۱۰۵ هـ يقيني دی.

ډاکټر راج ولي شاه خټک صاحب د واصل روښاني په حقله ليکي چې :

" واصل هم د روښاني مسلک کلک غړی دی او د دې طريقې د سلسلې په اخري کسانو کښې دی. دې هم د خپل روښاني مکتب فکر د وحدت الوجود قائل دی. ژوند ئې ۱۰۵۵ هجري کال او ۱۰۲۲ هجري کښې يقيني دی په دې چې دبستان مذاهب مؤلف د روښانيانو په حقله معلومات د واصل نه حاصل کړي دي. نو کۀ د دبستان مذاهب تاليف د ۱۰۵۵ هـ کال او ۱۰۲۲ هجري کال تر وخت ليکلی شوی دی نو د واصل ژوند په دغه وختونو کښې ښکاره کوي.

د واصل د کلام په رڼا کښې هغه خالص د روښاني مکتب فکر يو نمائنده شاعر دی او هغه ادبي روايات ئې په کلام کښې ساتلي دي چې د روښاني ادبي تحريک د قدماؤ شاعرانو دي. [xxxvi]

پښتو ادب کښې د بايزيد روښان تحريک کۀ هر څو مذهبي او سياسي تحريک سره ياد او تړلی پاتې شوی دی خو د غه مذهب او سياست هغوي په پښتو ژبه، شعر او ادب کښې کړی دی او ښکاره خبره ده چې ټوله فائده ی پښتو ژبې او ادب ته شوې ده. که پښتو ژبه کښې د پير روښان غوندې ستر لار ښود نۀ وی پېدا شوی نو د دې تحريک دومره لوئی او سترو نومونو خاوندان شاعران اديبان لکه ملا ارزاني خوېشکي، مرزا خان انصاري، دولت لواڼي او واصل وغېره به نۀ و زېږېدلي او که دخېرالبيان نۀ ليکلی شوی نو د اخون درويزه بابا مخزن به نۀ وی او داسې به د هغوي د کورنۍ نور غړي شاعران نۀ وی راپېدا شوی. پښتو ادب کښې هم د دغه روښاني غورځنګ له برکته دا دومره هڅې شوي دي بيا په تېره تېره روښاني شاعرانو خو شعوري طور د پښتو نامه اخستې ده. او د دې ژوندی ساتلو، ودې او پرمخ تګ د پره ئې خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړی دی او بيا اخون درويزه بابا خو نۀ يواځې د پښتو بلکې د افغانانو او پښتونخوا نامې هم خپل مخزن کښې پوره په اهتمام ځائی کړی دی چې نن ئې هم زمونږ په ادب اثرات مرتب ليدی شي. د بايزيد روښان ادبي غورځنګ او تحريک د خوشحال بابا قامي احساس راپارولی دی. د رحمان بابا روحانيت ته ئې ځلا ورکړې ده. او د عبدالحميد بابا، اخون زاده علي خان محمد زي او محمدي صاحبزاده رومانيت ته ئې لاره هواره کړې ده.

ضميمه

ما دا خپله مقاله هم دلته ختمه کړې وه خو له دې وروستو مې د پښتو مجلې په يوه دوه ګڼو کښې دغه موضوع سره تړلې مقالې ولوستې او له هغې ځنې زۀ په دې نتيجه

ورسېدم چې ښاغلي سلطان روم (لکچرار تاریخ) خپله "مقاله بایزید انصاري، خېر البیان او د قلندر مومند مقدمه" ( میاشتنۍ پېښتو مارچ – اپرېل ۱۹۹۸ء ) کښې قلندر صاحب د ځینو تحقیقي او تنقیدي بحثونو د جواب طلبو نکتو د خپل علمي استعداد مطابق د خپلو دلائلو سره جواب ورکړی دی. چې اختلاف او اتفاق ورسره کېدی شي. زۀ نور خو په ځائی پرېږدم ولې چې دا وخت مې ورسره څۀ سروکار نشته البته په ۱۰ نمبر ئې چې:

د اېمـــــــل فتـــــــور اغـــــــاز شـــــــۀ
د مومنـــــــدو هـــــــم عنـــــــان شـــــــوم

باندې کوم بحث کړی دی او د خپلو څو خبرو نه پس ئې د کامل صاحب د اردو کتاب "خوشحال خان خټک" ته د خېبر د جنګ یوه حواله هم د سند په طور پېش کړې ده چې خوشحال بابا پکښې د مغلو د طرف نه جنګېدلی وۀ او بیا ئې اخر ته خپله نتیجه داسې اورولې ده چې:

" خوشحال خان خو اول د مغلو طرف دار او وفادار وۀ. د کومې چې خوشحال خان په خپله هم اعتراف کوي نو ځکه د مومند صاحب دا استدلال او اخذ هله صحیح منلی کېدی شي چې دا ثابته کړی شي چې د اېمل خان په حقله د خوشحال خان دا شعر د هغه وخت دی چې هغه د مغلو باغي شوی وۀ." (۴۴ مخ)

دا صحیح ده چې خوشحال بابا د مغلو طرفدار او وفادار وۀ خو چې کله ئې ترې زړۀ بد شوی دی نو کۀ په ظاهره هر څو د هغوي مرستیال وۀ ولې زړۀ کښې ترې نالان وۀ. اګر چې د خېبر جنګ کښې د خوشحال بابا کردار ځینو محققینو په خیال متنازعه یا شک من دی خو شاید ښاغلي سلطان روم لکچرار د تاریخ د کامل صاحب بله مقاله " د خوشحال محسنانو سره مروت" د روزنامه انقلاب پېښور په میاشتنۍ اېډیشن یکم مارچ ۱۹۸۷ء چاپ کښې نۀ وي لوستي چې دا ئې پکښې ښکاره لیکلي دي چې :

"له ډېرو تاريخي قرائنو ښکاري چې دا وخت (د خېبر د جنګ په موقع، ناقل) نهٔ صرف د خوشحال بابا زړهٔ پښتنو سره وهٔ بلکې د هغوي په خپلو کښې راز او ساز باز هم وهٔ خو بابا د خپل يو محسن له خاطره په دې جنګ کښې د مغلو په فوځ کښې شامل شهٔ..... د خوشحال بابا د محمد امين خان په حال افسوس او هغهٔ سره همدردي په دې حالت کښې چې بابا په حقيقت د پښتنو ملګرى وهٔ او د هغيو برې ئې د زړهٔ نه غوښتو خاص اهميت لري....د خېبر د حادثې نه پس خوشحال بابا خپل بال بچ د سرائې اکړه چې په لويه لاره واقعه کېدو له کبله غېر محفوظ وهٔ . د خوړې نظام پورته بوتلو په خپله ليکي چې :

"ما هم په ننګ د پښتانهٔ زو زاد د سرائې نه راوويست نظام پور لره مې راوست قصد مې د اټک د نيولو وکړهٔ چې اټک به ونيسم. لار به د پېښور بند کړم مغل به خود هلاک شي."( ۸ ، ۹ ، ۱۰ مخونه)

دې سلسله کښې کهٔ مونږ له يو پله د خوشحال بابا هاغه تاريخي قصيده هېرول نهٔ دي په کار چې له دغه جنګه څهٔ ورځې پس ئې ليکلې وه او مطلع ئې دا رنګ ده چې :

چـــې د انـــا تـــر نـــادان لاوژنـــي بتـــر
مګـــر نـــهٔ دى دا ژونـــدون څـــهٔ معتبـــر

چې د دې قصيدې د تشريح په ضمن کښې محترم کامل صاحب داسې ليکلي دي چې :

"دا قصيده لکه چې د دې مضمون نه هم ښکاره او تاريخ مرصع نه هم معلوميږي خان په خېبر کښې د محمد امين خان د شکست نه پس ته ليکلې ده چې پکښې کهٔ يو خوا ته د پښتنو په فتح د خوشحالۍ اظهار او هغوي ته د محتاط وسېدو تلقين دى نو بل خوا ته د خپل محسن محمد امين خن په تباهۍ د افسوس اظهار هم شته. ( **۵۲۴** مخ) کهٔ خوشحال خان د خېبر په جنګ کښې د مغلي لښکر ظاهراً ملګرتيا کړې ده نو د خپل محسن محمد امين خان د احساناتو د درانهٔ پېټي د لاندې د بدل خلاصولو په نيت نهٔ چې د پښتنو په خلاف) نو بل خوا ئې هاغه مشهور بېت هم ياد ساتل په کار دي چې:

مستجاب مومند کۀ چرګه د مغل ده
زۀ خوشحال ختهک خو باز یم ځای مې غر

ځکه چې د خیبر د جنګ په دغه موقع ورسره مستجاب مومند هم د تاترو په لار ځۀ په خوارو خستګیو ځان پېښور ته رارسولی دی چې دواړه د یو شان سزان مستحق وو فرق دومره وۀ چې مستجاب مومند ورته پېښور کښې ډېر نزدې او خوشحال بابا ترې لرې په غرۀ کښې استوګنه لرله ځکه ئې د نیولو او وژلیو امکانات د مستجاب مومند په نسبت ډېر کم وو. دې لړ کښې مونږ له د خوشحال بابا هاغه مشهور نظم چې د خط په طور ئې خپل بادشاه ایمل خان مومند ته لېږلې وۀ، هم نۀ دې هېرول په کار چې اګر کۀ د ایمل خان مومند نامه پکښې ښکاره نۀ ده اخستې شوې خو د شعرونو د نفس مضمون نه دا پته لګي چې ایمل خان مومند یادوي چې د خپل دور مهدي او عیسی ئې ورته وئیلی دی او دشمن ته ئې د جال وئیلی دی. د خېبر او خپلو ملګریو دریا خان دروېزه ذکر هم کوي. نظم دا دی:

د یوۀ بادشاه په حکم شوم اګاه
امر نهي مې قبول دي د بادشاه
ما مهدي ئې یا عیسی چې راښکاره شوې
په جهان دې غلغله وشوه ناګاه
د مهدي او د عیسی د وړاندې ځۀ دي
هم دجال هم د دجال واړۀ سپاه
خیبر اباد لره دې رائشي لښکره
چې احوال د غلیمانو شي تباه
چې خیبر لره ما بولې قضا کیږي
ډېر کارونه په دا ملک د خیرخواه
دریا خان، دروېزه دواړه په حضور دي

ګویـــــا زۀ هـــــم پــــه حضــــوري د درګــــــاه
خـــــواه نـــــاخواه کـــــۀ امـــــر دا دی چـــــې رادرومـــــه
دا بنـــــده بـــــه در روان شـــــي خـــــواه نـــــا خـــــواه
دا رنـــــده د عریضـــــې زمـــــا لـــــه لوریـــــا
زبـــــاني خبـــــرې هـــــم لـــــري همـــــراه

(کلیات **۲۸۲** مخ)

نو د خوشحال بابا د کلام د داخلي شهادت په موجودګۍ کښې دا خبره په کوم بنیاد کیږي چې "د " ایمل فتور اغاز شۀ" بیت خوشحال بابا هاغه وخت وئیلی وۀ چې لا د ایمل خان ملګری نۀ وه. یا وۀ او کۀ نۀ؟

له دې علاوه زمونږ موضوع سره تړلې یوه ډیره دلچسپه تحقیقي او تنقیدي مقاله د ډاکټر یار محمد مغموم خټک صاحب" خوشحال او روښانیان" د دسمبر **۱۹۹۲**ء "پښتو" کښې هم چاپ شوې ده چې زیات تره د روښانیانو په سیاسي تناظر کښې لیکلې شوې ده او د روښانیانو او خوشحال بابا د ژبې او ادب د خدماتو په حواله پکښې څۀ خاص خبره نۀ ده شوې. په هر حال مغموم صاحب هم د خوشحال خان د دې عقیدې پلوي ښکاري چې هغه (خوشحال خان) د روښان پیر په حقله د سیاسي او مذهبي عقیدې دواړو مرسته کوي. په دغه مقاله کښې هم د ښاغلي سلطان روم (لکچرار تاریخ) د متعلقه بحث جواب په دې ټکو کښې موجود دی چې:

".....چې خوشحال د مغلو خلاف د پښتنو د پاڅون د پاره د فتور او فساد ټکي استعمال کړي دي هغۀ د هاغه ایمل خان مومند چې د خوشحال په نظر کښې ئې واقعي د مشرۍ صلاحیتونه لرل او چې خوشحال خان ئې په هره موقع احترام کړی او ورته ئې د حد نه زیات عزت بخښلی دی. د نوم سره د فساد او فتور ټکي د منفي معنیو لرلو په صورت کښې نۀ شو استعمالولی مثلاً خوشحال د ایمل خان مومند په حقله وائي:

ایمـــل خـــان دریـــا خـــان دواړه مـــرګ ئـــې مـــۀ وی
هـــیڅ تقصـــیر دواړو ونـــۀ کـــړۀ وار پـــه وار
د خیبـــر دره ئـــې ســـرۀ کړلـــه پـــه وینـــو
پـــه کړپـــه ئـــې هـــم روان کـــړۀ دنـــدوکار
بیـــا لـــه پســـه جســـونت سنګهـــ، شـــجاعت خـــان وو
چـــې ایمـــل ئـــې پـــه ګنـــداب وو یوســـت د مـــار
شـــپږم جنـــګ مکـــرم خـــان شمشـــیر خـــان دواړه
چـــې ایمـــل کـــړل پـــه خـــاپښ کښـــې تـــار پـــه تـــار
ایمـــل خـــان، دریـــا خـــان دواړه خـــودر بـــین لاړل
اوس خـــو پـــاتې و مغـــل تـــه یـــو خوشـــحال دی
ایمـــل خـــان مـــې د کچـــې ګـــوتې خُلـــې دی
دریـــا خـــان مـــې د پګړیـــه شـــملګی دی

د ایمل خان (او دریا خان) متعلق د خوشحال دا او ځنې نور شعرونه دا خبره صفا کوي چې د هغۀ سره خوشحال ډیره مینه لرله او د مغلو خلاف د پښتنو د تحریک رهبر او لار ښود ئې ګڼلو. ...(۲۱، ۲۲ مخونه) البته ښاغلي مغموم د خوشحال بابا د شعر هم خپله مقاله (۲۲ مخ) کښې راوړی دی چې:

الهـــداد لکـــه لمســـی پـــه جیفـــه ګرځـــي
د مـــرداري بـــوي ئـــې ځـــي لـــه دواړو چنګـــه

او د الهداد نه ئې " رشید خان" روښانی مطلب اخستی دی. حالانکې داسې نۀ ده ځکه چې دغه الهداد روښانی نۀ بلکې یوسفزی دی. دغه بیت چې د خوشحال بابا په کومه قطعه کښې راغلی دی د هغې وړومبی بیت داسې دی چې:

حقیقــــــت د یوســــــفزي راتــــــه معلـــــوم شــــــو
کاروبــــار بـــــه ئــــې ښــــکاره شــــي پـــــه دوه رنګـــــه

او په دغه قطعه کښې ئې د نورو یوسفزیو ملکانانو او سردارانو نامې ذکر کړي دي مثلاً ملک عبدل، حمزه خان، ملک طالی، مصري خان مندڼ، حمید، کچی او کاچو.نو هم په دغه سلسله کښې ئې د الهداد نامه هم اخستې ده ځکه نو داسې برېښي چې دغه الهداد هم یوسفزی دی نۀ چې رشید خان روښانی. (وګورئ کلیات ۸۴۷ مخ) یاد دې وي چې په هوتي مردان کښې اوس هم د الهداد خېل یا الله داد خېل په نامه یوه روغه محله اباده ده چې اله داد خېل هم لیکلی شي. شائد چې دا خلق هم د دغه الهداد زورزاد وي. ځکه چې دوي هم یوسفزي دي. نور به ترې خدائی خبر وي.

# حوالې او حاشيې

[i] ۹۲۸ هـ مطابق دی دَ ۱۵۲۱ء کال. دَ روښان اکثرو محققينو دَ حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي نه تر تقويم الحق کاکا خېل، قيام الدين خادم او عبدالحئ حبيبي صاحب پورې دَ دۀ دَ پېدائش کال ۹۳۱هـ ګڼلی دی. يواځې ښاغلې قلندر مومند " دَ خېرالبيان تنقيدي مطالعه" مخ ..۱۲ کښې ۹۲۸ / ۹۲۹هـ ګڼلی دی. د دَ ۹۲۸ هـ دا کال دَ "پير روښان او روښاني انقلاب" نوم ئې کتاب نه واخستی شه چې دَ ښاغلي سېف الرحمان مسعود تحقيقي او تنقيدي اثر دی او په لړم ۱۳۷۷ ل اکتوبر ۱۹۹۸ء کښې چاپ شوی دی. ۱ مخ

[ii] ياد دې وي چې "دَ روښان په ژوند کښې دَ حالنامې له رويه دَ بايزيد او مرزا حکيم دَ حاکم تر منځه صرف يو جنګ شوی وۀ. "دَ خېرالبيان تنقيدي مطالعه دَ قلندر مومند مخ مز / ۴۷.

[iii] هم دغه ۱۱۲ مخ. دَ بايزيد روښان ټولو محققينو دَ دۀ دَ وفات کال کښې هم اختلاف کړی دی. حالنامه ئې ۹۸۰ هـ زلمی هېواد مل ئې ۹۳۸ هـ او قلندر مومند ئې ۹۸۵ هـ ۹۸۲ هـ يادوي.

[iv] "دَ خېبر زوئی" دَ امير حمزه خان شينواري (سوانح عمري اردو ژبه کښې) دَ قلمي نسخې فوټو کاپی، په مننه دَ ملګري عبدالله جان عابد لکچرار پښتو ژبه اوادب. علامه اقبال اوپن يونيورسټي اسلام.

[v] "سوات نامه" دَ خوشحال خان خټک. مقدمه تحقيق او سمون دَ همېش خليل. ۹۷ مخ. دغه بېتونو کښې دَ درېم بيت دوېمه مصرعه ارمغان خوشحال، تاريخ مرصع او کابل چاپ کښې داسې ده:

هغـــــه هـــــم مجهـــــول بيـــــا وۀ نـــــا پســــــندلی

[vi] "مخزن" دا اخون درويزه بابا. مقدمه دَ " سيد تقويم الحق کاکا خېل خپل، له مخ. دوېم چاپ ۱۹۸۷ء پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي.

[vii] هم دغه. لز مخ

[viii] هم دغه . لو مخ

[ix] پير روښان اوروښاني انقلاب ۱۳۳ مخ.

[x] هم دغه ۱۳۴ – ۱۳۵ مخونه

[xi] تاثرات: ډاکټر محمد اقبال نسيم خټک " بايزيد انصاري پير روښان" مؤلف شمېر افضل بريکوټي ۳۹ مخ ( دَ چاپ کال نه لري) "ارمغان خوشحال" مقدمه ۱۴ مخ

[xii] . دوست محمد خان کامل مومند "رحمان بابا" قامي مکتبه پېښور ( دوېم چاپ – کال نۀ لري) **۲۴** مخ.

[xiii] هم دغه اثر. **۲۴ – ۲۵** مخ.

[xiv]. ډاکټر شېر زمان طائزی. "پټه خزانه لټول غواړي" . میاشتنۍ ښکله پېښور، جولائي ۱۹۹۴ء **۱۵** مخ.

[xv] له دې خبرې پرته چې لفظ فساد ئې دَ شور او شر شدت او غارت ګرۍ په معنی هم راوړی دی. دَ مثال په طور په "سوات نامه" کښې دا بېتونه لفظ "فساد" خپل اصل معنوي صورت کښې بیانوي چې:

چې دعوی دَ چا په منځ کښې شۍ بنیاده
ملکان ئې سره ژغوري له فساده
په دعوی به درست عالم سره ګډ وډ شي
دَ لښکر په ټولول به فساد ګډ شي
دَ یزید په لعنت څه دَ چا ایستاد دی
خو بابا باندې ئې حکم دَ فساد ی
هیڅ ئې نۀ کاتۀ دَ پدو فساد ته
نقش ئې کښېناوۀ په مکر خپل اولاد ته

( **۷۷**، **۸۳**، **۹۰**، **۹۸** مخونه)

[xvi] . دَ "خېر البیان تنقیدي مطالعه" قسح ۱۲۸ مخ.

[xvii] . سوات نامه دَ همېش خلیل ترتیب کړی . **۹۹** مخ . (یاد دې وي چې دغه بیت قافیه نۀ لري).

[xviii] . هم دغه **۹۲** مخ .

[xix] . "کلیات خوشحال خان خټک" **۲۳۳** مخ. سره دَ مقدمې او حاشیې دَ دوست محمد خان کامل مومند، دوېم څل ۱۹۶۰ء . اداره اشاعت سرحد پېښور.

[xx]. "دېوان خوشحال خان خټک" بزبان افغاني و فارسي، در مطبع رحماني پرېس خواجه ګنج هوتي طبع شد بار اول ۱۹۲۸ء (۱۲۲مخ) او ۱۸۲۹، دَ ټائټل تاریخ – ۱۸۷۰ء دَ خاتمې تاریخ هم دغه مخ ۱۲۲.

[xxi]."خېرالبیان تنقیدي مطالعه" قعب – ۱۷۲ مخ او / قعا ۱۷۱ مخ.

[xxii] میاشتنۍ "پښتو" اداریه پښتو اکېډېمي پېښور یونیورسټي، مارچ، اپرېل، ۲۰۰۳ء ۴ مخ.

[xxiii]. هم دغه ۲ مخ.

[xxiv]. دَ خېرالبیان تنقیدي مطالعه . ۱۷۲ مخ

[xxv] " دیوان خوشحال خان خټک" (اوله حصه) دَ محکمه ثقافت صوبه سرحد چاپ، دَ چا پ کال نۀ لري ( ۵۷۲ – ۵۷۳ مخونه)

[xxvi] همدغه ماخذ

[xxvii] همدغه ماخذ

[xxviii]. هم دغه (دوېمه حصه) ۴۵۳ – ۴۵۴ مخونه او "دیوان خوشحال خان خټک" ۱۸۲۹ء چاپ ۳۸۲ مخ.

[xxix]. "دَ ارزاني خوېشیک کلیات" تحقیق او ترتیب : ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي. ۱۹۹۹ء ټائپ شوې مسوده.

[xxx]. نظم (انتخاب) مرتبین : پروفېسر ډاکټر محمد اعظم اعظم او پروفېسر ډاکټر شاه جهان ۳۱۵، ۳۱۲ مخونه.

[xxxi].پریشان خټک "پشتو شاعری کی تاریخ" ایک تحقیقی جائزہ" اکادمی ادبیات پاکستان اسلام اباد ۱۹۸۸ء . ۳۰ مخ (اردو نه ترجمه زما ده)

[xxxii]. "دَ دولت لواني دیوان" پښتو ټولنه کابل افغانستان ۱۳۵۳هـ ش

[xxxiii]. نظم (انتخاب) ۳۱۷ – ۳۱۸ مخونه.

[xxxiv]. هم دغه ۳۱۹ – ۳۲۰ مخونه.

[xxxv]. "دَ واصل روښاني دیوان" پښتو ټولنه ۱۳۲۵ "واصل روښاني او دَ هغۀ دیوان" زلمی هېواد مل (اتۀ) مخ.

[xxxvi]. " دَ پښتو ادبي تحریکونه" تحقیق: ډاکټر راج ولي شاه خټک ۱۲۹ – ۱۳۰ مخونه . ۱۸۸۹ء پښتو اکېډيمي پېښور یونیورسټي.